Feb 3, 1958

د۱۳۳٦ کال ددلوی(۵۱)☆د۱۳۷۷ کال درجب المرجب(۱۴)☆د۱۹۵۸ع کال دفروری (۳)

کابل

په دی ګڼه کښی

رقیبان * دخوشحال..
تاریخ څه شی دی...
یو پښتون په جنوبی...
یو ماښام...
خندامې نه راځی خو...
کاغذ * دپښتون سید
جمال الدین...
لیلة القدر * دبز کرلور
کتاب : دبنګ
مسافری * صیاده !
ولولی .

2 - APR 24
Copy 1958

پر له پسی ګڼه (٤٥٠)

دغزونی له کتاب څخه:

رقیبانی

نور ې قصې وایه چه آسانې دی
پرېږده دالفت خبرې گرانې دی

رامې شی لېموته ددېدن په وخت
او ښکی څه نابو هه رقیبانې دی

خدا یږو چه کافر خوئی صهبانه کا
لا خوز ما او ښکی مسلمانې دی

ستر گې مې لوستې شې دفطرت کتاب
مخ ته دآشنا چه شی امیانې دی

ستاد جلب شوق ئې وی راپېښې شی
دامې که سلگی دی خومهمانې دی

گران شو هسې ستادو صال می ولې
تل چه دعا شق وینې ارزانې وی

غم د هجر یو، رتل ئې بل جواب ـ
داسې مرض، داسی دوا گانې دی

ښکاری چه حمزه په زړېدو ئې اوس
لادې چه جزبې له پخوا ځوانې دی

(۲۷ کال)

(۲۱) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

دپښتو ټولنی مشر ، گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر ! م، د، «ژواك»

پته : کابل. نادر پښتون واټ دپل خشتی دیله مقابل دتیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

شاعر

په ۴۹ ګڼه کښې چه مو د شاعر د ښولو وعده کړې وه، هغه غښتلی شاعر او دادب په هسک کښې ځلاند ستوری ښاغلی محمد صدیق «پسرلی» دی

دوهمه برخه :

ښاغلی بینوا

دخوشحال بابانثر

«مټ په علم په فضیلت بویه فضیلت او دولت سره توامان دی، دعلم دفضیلت د څښتنو محتاج بادشاهان وی .

هرڅیز نقصان و کمال لری، د سړی کمال په علم په فضیلت کښی دی- که ئې حاصل کا کمال ئې حاصل شه او کنه به نقصان کښی پاتو شه . مثلاً اوسپنه پیداده چه توره شی که داستاد ترلاسه ورغلو توره ورځنی سازه شوه، به صیقل شوه، تېره شوه، موټی میان ئې مرتب شول، ترملا شوه، غرا پری و شوه، د کافرتر ورمېږ پرېوته کمال ئې حاصل شه . ...»

«علم هغه دی چه سړی ودین وته راڅکوی؛ قاضی نشی، مفتی نشی، زکوة خورسر سایه خور نشی، نفسانی نه وی عالم ربانی وی . نه چه نفسانی، شیطانی، دیوانی چه دملوکانو خوشامد کوی، دعلم په وسیله تقرب دامیرانو حاصلوی، دین. پدنیا وپلوری داعالمان نه دی طفلان دی - فرد :

قاضی ومفتی وسوفی همه طفلان رهند
مرد گرهست بجز عالم ربانی نیست

هرچه باوجود استکمال دمیر دوزیر ترڅنګ دی عالم ولیده مشابهت ئې د عطار دی چه لون لون خوشبوئی ورڅخه ولی ناست د کناس پکور کښی؛ لا په تیره قباحت دا چه قلم پلاس واخلی دامیرانو خدمت قبول پکفایت په توفیر دامیر مشغول شی کویا چه دی کناسه کاری اختیار کړی. هغه ښکلې نافی خوشبوئی چه د علم وحکمت دی دنجاست سره خلطی کړی- توبه له هغسی کاره ....» دا باب ډېر اوږد دی د لته ئې څو جملې دنمونې په توګه راوړلی شوی-

(۲)

خوشحال بابا دخط دهنر په باب کی لیکی :

«علم او خط سره لازم ملزوم دی، علم پمثال وحشی دی خط ئې لکه کمند چه وحشی پرې قید شی. داهونبره کتابونه به نه وو که خط نه وی؛ په حساب، په کتاب، په سیاق به څوك پوهېدل که خط نه وی؛ دجهان کار سره ټول په خط دی، لوی هنر دی منزلت مرتبت ئې هم ډېر دی . قدر قیمت ئې تر حساب تېر دی - که ئې دولتمند زده کا زیب و زینت دی، که ئې درویش زده کا د درویش دولت دی .... الحق څوچه څوك وایی دا هنر لایق دهغه تعریف دی - کار ئې پټ نه دی څرګند دی - ولی حیف دا چه د هرچا په مصاحبت تن ور کالارنه ګوری، هرڅوك ئې چه پلاس واخلی، نور دهغه شی، دهرچا یار دی - رباعی :

درسته ښه یې ته دلداره
یوه چار دی ده بېکاره
چه و تا وته نژدې شی
نوره یې د هغه یاره
کور دده وران ښه چه دده
دمخه څه ورانی ودانی په جهان
شی، په هرچاچه دی دا نور مخ

برابر کا کیمیا گر دی سیس ئې زر کا، بې کامه وي هزار کامرانۍ ور کا، د ډېرو په سر تاج کښېږدي، د ډېرو خاوري په سر کا، په دا سبب چه دوزبان دي؛ د جهان سر گردانۍ په ده دي هر زمان ئې سر په تیره تیغ واهه شي چار پخپل سر کا - جانگداز رفیق نواز دي، ځوانمردي ئې ډېره وفائي تر حده تېره ده - دریغه چه د نا اهلو په لاس کښې نه وي، پلاس داهلو وي - دده د سر بلا په بد ذاته پسفله وو په سهلو وي...»

دا باب هم ډېر اوږد او د قلم د توږولو او د خطونو د ډولونو ډېر تفصیل پکښې راغلې دي، چه دلته ددې باب د سر په څو جملو اکتفا وشوه.

(۳)

خوشحال بابا د شعر او نظم په باب کې هم یو لوی باب په نثر لري چه دلته ئې یوه برخه د نمونې په ډول را نقلوو:

«دا هنر چه د شعر د نظم دي هم داخل د کسب کمال دي - اما مشق دي له شعوره چه جبلي طبیعت د شعر لري - د شعر فنون، صنعتونه په کسب حاصلېږي، که ډېر تحصیل د علم و کا صنایع بدایع د شعر زده کا چه طبیعت د شعر جبلي نه لري خبره به نظم نه کا - د شعر هم جبلي طبیعت بویه هم ئې علم د صنایع بدایع بویه چه واړه زده کا - سوائې تر دا نمک شیرینۍ د شعر تعلق پدرد په محبت لري، پختگي ئې په استعمال. دراصل شعر پلغت کښې کلام منظوم وته وایې دواړه مصراع د بیت په تول تللي، په حرفونو سره سمي، عروض قافیه سره جوړ پدا کښې هرچه وي که قصیده وي که غزل که رباعي که قطعه ده که مخمس که مسدس په ډېر وجه شعر وایه شي: قصیده هغه چه تر څورلس بیته زیات تر سل تر هر چه وایي پکښې پند یا نصیحت یا مدح ذم راوړي...»

(په دې ډول په دې ځای کې د شعر او نظم د تولو اقسامو تعریف راوړي او تر هغه وروسته بیا لیکي:)

«ابتدا د شعر د هنر دافلاطون حکیم نه شوي ده، د شعر پایه لویه ده، د حکمت سره یاد شوي دي، پیغامبرانو ویلي دي، د پیغمبر اصحابو ویلي دي، د امیرالمومنین علي کرم الله وجهه تمام دیوان د شعر پعربي ژبه شته، هغه چه وایي چه محمد رسول الله طبیعت د شعر گوئي نه وه هغه نه پوهېږي چه داهسي وایي، که داهسي وي نقصان لازم کېږي، نقصان در سالت پناه پکامل وجود روانه دي، تمام کمال پجمیع مخلوقات کښې دیوه دده د ذات حاصل وه، عقل کل هم یوازي دده نصیب شوي دي، تر از له ترا بده پیغمبران او لیا هر څوک چه دي که د دیو واړو پوهه عقل ټول شي دده تر پوه تر عقل نرسیږي - تر و د شعر څه کار دي چه دده به نه و - تر هر چا نه دا حال دده زیات وه اما ژبه ئې پرې نه آلوده کوله په څو سببه

یو سبب دا دی چه مشرکانو
کافرانو به تهمت دشاعری
پرې کاوه ـ دا آیت پدا باب دی
«وماعلمناه الشعر وما ینبغی له»
هرکا چه دشعر په نـه ویـل
گمانونه پرې کېدل چه دقرآن
آیتونه به پرې راغلل مشرکانو
به ویل چه دا شاعری کا، که
شعر ئې ویلی لا به ئې گمان
پرزیات شه ـ بل دی مامور په
دعوت دخلایق ؤ منتظر دوحی
و، التفات ئې پـامثال د دیـو
کار ونو نه و، بې بې عـایشه
رض الله عنها پدا کار کښې
ماهره وه، د یری قصیدې ئې
یادې وې، خوزره بیتو نه ئې
یاد وو، گاه گاه به ئې حضرت
ونه ویل حضرت به ورته موسپده ـ
اعشی شاعر دسرور به خدمت
حاضر وه، دشعر مذاکره پتمام
قریش کښې موروثی وه، دشعر
کار عظیم دی ـ بسم الله الرحمن
الرحیم هم وزن دنظم لری.....
د دی خـا نه پر انـداز سینه
گدا ز خو تعریف توصیف کوم
لگېدلی اوردی چه هرڅه به مخ
وری ..پیره ئې دنواره ده ویل
ئې گران دی د هرچا کار نه
دی، هغه دی وایی چه سخندان
وی، دیوه لفـظ د آرا ستگی
دپاره خوب پـه سړی حرام
کا...» په دی ډول خوشحال بابا
په تولو هغوه کرشو یو هنرونو کی
مفصل بابو نه لری چه برسېره
پر دې چه دده دنثر لیکلو بنکلی
او ساده طرز لوستو نکـو ته
ځر گندوی به دې هره موضوع
کی ښه گټوری څېړنی هم لری،
چه که ئې پښتو ټولنـه وراو
لازمه و گڼی کېدای شی چه
دخوشحال بابا له دی رسالې
څخه دښو نځیو په پښتو قرائتونو
کی استفـا ده وکړی او هـره
موضوع به لند طور ور ځینی
انتخاب کړی.

ښاغلی حسن سایی

تاریخ څه شی دی؟؟

دوهمه برخه

کارل مارکس وائی دوهمه برخه که په رښتیا دطبعی حادثاتو اودهغو دمتقابله شرائطو ترمنځ روابط د طبعیت دتکامل قطعی قوانین دی (۱) نوداجتماعی ژوندانه دحادثاتو روابطه او شرائط هم احتمالی او تصادفی نه دی، بلکه دجامعی دتکامل لازمه قوانین دی. اوله دې نه دا نتیجه اخلو چه اجتماعی ژوند او تاریخ ئې د تصادفاتو دتراکم مجموعه نه ده، ځکه دجامعی تاریخ عبارت دی دجامعې له تکاملي سیرنه، دمعینو قوانینو سره سم، اود جامعی د تاریخ بررسی او مطالعه په علم تبدیلیږی. نو بناپدې نه ښائي چه دیو (انسان) د عملی فعالیت اساس دسترو او وتلیو افرادو دستاینی ور تمایلاتو په اساس یا دعقل دتقاضا اوعمومی اخلاقو پر بنا او داسی نوروایښی وی بلکه باید دجامعې دتکامل قوانین په نظر کښی ولری.

او که رښتیاده چه دنیا دپیژندنی وړده اوزمونږ معلومات دطبیعت دتکامل دقانون په باره کښی معتبر او عینی حقیقت دی (۲) نو ژوند او اجتماعی تکامل هم دپیژند لووردی. او د جامعې د تکامل د قوانینو په حقله علمی احکام داسې احکام دی چه بیخی معتبر او عینی حقیقت دی. پدې صورت دجامعی دتاریخ علم داجتماعی ژوندانه دحادثاتو سره له تولو پیچیده کیو کولای شی چه لکه بیولوژی یو دقیق علم شی، چه داجتماعی تکامل د قوانینو دعملی تطبیق دپاره داستفادی وړ وګرزی. نو بناپدی یو (انسان) ته نه ښائي چه یخپل عملی فعالیت کښی تصادمی دلائل خپل رهنما وګرزوی بلکه لازمه ده چه دجامعی دتکامل دقوانینو اوله دغو قوانینو نه دپلاس راغلیو عملی نتائجو پیروی وکړی، دا چه مارکس تاریخ لکه بیولوژی ثابت او قانونی علم ګڼی؟ دده دغه نظریه په دوه بناو ولاره ده

۱ ددیتر مینزم (جبر) بر بنا، چه وائی: هر کله مشابهه عوامل مشابهه حادثات تولیدوی، اوطبیعی اواجتماعی حادثات همیشه دعلیت له مخی پیښیږی، یعنی هر علت معلول او هر معلول علت لری نو بنا پدی یوه اجتماعی حادثه لکه طبیعی حادثه هیڅ کله اتفاقی او تصادفی نه وی او نه د فردی وجدان اویا دافرادو دارادی زیږنده وی. ځکه که داسی وی نو اجتماعی حادثات په رښتیا په صحیح صورت نشی پیژندل کیدای حال داچه داسی نه ده یوه اجتماعی حادثه دیو لړ عواملو، علتو او شرائطو مولوده. بدغه عقیده

(۱) پخپله کارل مارکس داپه ډیرو مثبتو دلائلو ثابتوی چه د طبعی حادثاتو او د هغو دمتقابله شرائطو ترمنځ روابط د طبیعت دتکامل قطعی قوانین دی.

(۲) داچه دنیا دپیژندنې وړده اوزمونږ معلومات دطبیعت دتکامل دقانون په باره کښی معتبر او عینی حقیقت دی. دې مسالی داثبات دپاره هم پخپله مارکس منطقی او مثبت اوقاطع اوقانع کوونکی دلائل راوړی دی اوثابته کړې ئې ده.

باندی او سېدل انسان پدی بریالی کوی چه دحادثاتو دپېښېدو قوانین (دحادثاتو ترمنځ روابط اومناسبات) ومومی او بیائې ښه تمیز، تشخیص او تعریف کړی نو پدی صورت مورخ ددغه ذهنیت دلرلو په مرسته کولای شی چه د اجتماعی حادثاتو ماهیت او څرنګوالی په مبثت او صحیح ډول سره وپېژنی او حتی د هغو دبیا پېښېدو پېش ګوئی هم وکړای شی.

۲ اقتصادی بنا. مارکس عقیده لری چه تاریخ داقتصادی عامل په واسطه تشکیل کېږی. صنعت دین، ادبیات، ساینس، قانون بالاخره په خپل نهائي تحلیل کښی فقط د ثروت د تولید د سیستم محصول او مولود دی.

اجتماعی تحولات د هغو تغییر او نتیجه ده چه د جامعی په مسلطه تولیدی سیستم کښې پېښېږی، په حقیقت کښې اقتصادی عامل دی چه د تولو حادثاتو او انقلابونو منشاء ګڼل کیږی.

انقلابات هغه وخت صورت نیسی چه زاړه اجتماعی موسسات د تولیدی سیستم له تحولاتو سره منافات ولری او وائی چه ددغو تحولاتو په نتیجه کښې چه پر له پسې تبارز کوی بالاخره داسې وخت رسیږی.

چه یو شدید او آنی تحول او کیفی تغیر د زور او شدت سره لړلی پیدا کیږی او هغه عبارت دی له انقلاب نه په تېره زمانه کښې د جامعې انتقال د غلامۍ له دورې نه د سرف ډم (نیمه غلامی) دورې ته او له سرف ډم نه د سرمایه دارۍ دورې ته، دا تول د هغو تحولاتو په واسطه ئې صورت نیولی چه اصلاً د تولید په سیستم کښې منځ ته راغلی دی .....»

نو که په رښنیا اجتماعی حادثات هم لکه طبیعی حادثات د علیت له مخې او د ډېټرمینزم (جبر او معینیت) تر قوانینو لاندی پېښېږی او تاریخ داقتصادی عامل په واسطه تشکیلېږی، نو حق لرو چه تاریخ لکه بیولوژي او یا یو بل مثبت او طبیعی علم مثبت او طبیعی وګڼو.

په تاریخ کښې د احتمالاتو او تصادفاتو او استثناآتو برخه:

البته پدې کښې شك نشته چه په تاریخ کښې کله کله استثناآت او احتمالات هم برخه لری چه بنا پدې حق نلرو چه تاریخ مطلق یو مثبت علم وګڼو. مګر دا باید په یاد ولرو چه عجالتاً په سلو کښې سل هیڅ علم او هیڅ قانون مثبت او غیر قابل تغیر نه دی. که مونږ ځینی طبیعی علوم لکه بیولوژی حیوانی او نباتی، جیولوجی او داسې نورو ته یو نظر واچوو په هغو کښې هم کله کله احتمالات او استثناآت زمونږ ستر ګوته برېښې مثلاً په بیولوژی حیوانی کښې د یوې ښځې شنډ توب او بیا د یوې بلې ښځې په یو ځل پنځه تنه زېږول او یا د انسان او نورو حیواناتو په مولوداتو کښې د دوه سری مولود او یا یو بل راز عجیب الخلقة مولود زېږېدل،

چه د بیولوژی د علم له پرنسیپونو او قوانینو نه خلاف دی ددغه علم استثناآت او

احتمالات کېل کېږي. په همدې ډول په بیولوژي نباتي کښې ددوه ختکیو او یا دوه بادرنګو پوله بل سره نښتل دا هم یو راز استثناده.

او همداسې په فیزیک، کیمیا، جیولوجي او نورو علومو کښې هم ځینې احتمالات او استثناآت موجود دي.

خو باید وویل شي چه په تاریخ کښې احتمالات عموماً دیوې حادثې په جزئیاتو او فروعاتو کښې پېښېږي؛ نه په کلیاتو او اساسي خطوطو کښې. او دا احتمالات او فرضیات زیاتره د محقق مورخ د ضعف او یا د وثائقو د نه پیدا کېدو او یا د هغو د نیمګړتیاؤ په اثر مجبوراً منځ ته راځي.

دا چه تاریخ ښکاره او جوته کړه چه په تېره زمانه کښې، مصر، چین، کلده او آثور یو ښه مدنیت درلود. پدې کښې هېڅ دشک او احتمال ځای نشته او یا دا چه تاریخ ښکاره کړ چه لوی مقدونی اسکندر وجود درلود او دهغه په وخت کښې د یونان دامپراتورۍ لمنه پراخه شوه؛ پدې کښې هم هېڅ دشک او احتمال ځای نه لیدل کېږي. او همداسې نور. البته په ځینو وختو کښې کله چه یو مورخ په تاریخ کښې احتمالاتو ته قائلېږي او یا د فرضیاتو لمنې ته لاس اچوي لکه څنګه چه د مخه مو وویل؛ غالباً دا به د هغه علمي ضعف او یا د وثایقو د نشتوالي او یا د هغو د نیمګړتیا له کبله ري، چه له ښه مرغه دغه نیمګړتیا هم د زمانې په مرور او د یو او بجکتیف (افاقي، علمي) اصول او ذهنیت په مرسته لري کېدونکي ده. «لکه څنګه چه ښکاره ده ورځ به ورځ د ماضي په متعلق زمونږ معلومات توسعه پیدا کوي او ډېري تاریکۍ پر له پسې دا دي روښانه کېږي او هر نوي کال نسبت زور او تېر کال ته د ماضي ژوند په متعلق زمونږ د معرفت اسباب ډېرېږي»

پدغه لړ کښې فلسین شاله پخپل متودولوژي نومي کتاب کښې لیکي: «په تاریخ کښې د حقیقت پېږندنه او پوهېدنه هم لکه نورو علومو د زمانې په تېر بدو مخ په وړاندې ځي او کامل کېږي. مثلاً پخوا د مصر تاریخ دومره روښانه نه ؤ لکه څنګه چه اوس ښکاره او روښانه دي، او همداسې نور،

اوس به راشو دي ته چه آیا په تاریخ کښې استثناآت شته او که نه؟! د اوس د پاره پدې باید اعتراف وکړو چه په ټولو علومو او قوانینو په تیره بیا په معنوي او اجتماعي علومو او قوانینو کښې چه د هغو د بحث موضوع انسان او انساني ټولنه ده د استثناآتو امکانات شته دي دا خو ځکه چه یو خو انسان او انساني حادثات مجمل او کمپلکس دي او تر اوسه لا په مثبت ډول نه دي پېږندل شوي او تر یو راز شرایطو لاندې نه دي راغلي او د یو واحد قانون تابع نه دي. نو بنا پدې کله کله د انسان د ماهیت د صحیح او سمې پېږندنې سوال د یوې معمې بڼه غوره کوي.

بله دا چه پخپله د انسان مغز او دهغه آفاقي او علمي ذهنیت او معلومات لا تر اوسه د تکامل حد ته نه دي رسېدلي، چه پدې قادر شي چه د ټولو طبیعي او

اجتماعی حادثاتو په کم او کیف او دهغو په ماهیت پوره پوه شي: البته له دې نه انکار کول معقول او منطقی نه دی، چه دنیا او حتی کائنات د بشر د پاره د پوهېدنې او پېژندنې وړ او ممکن دی. خو د زمان د تېرېدو په شرط ځکه چه د زمانې مرور د تکامل د سیر یوه طبیعی لیاره ده، که نن بشر د ځینو معضلاتو او مسائلو په حل کولو او یا د هغو په ماهیت نه دی پوه شوی نو سبا خو به حتماً پوه شي، ځکه بشر لازلمی دی او دده عصبی دستگاه او انساج او سلولو نه لا تر اوسه مخ به انکشاف او تکامل د رومی. او ورځ په ورځ د دنیا او دهغې د محتویاتو د ماهیت په متعلق دده معلومات زیاتېږی. مثلاً: یو طفل چه په ابتدا کښې حتی خپل مور او پلار او ډېر نژدې کسان هم نه پېژنی خو د زمانې مرور دی پدې باندې قادر کوی چه حتی مجهولات او مبهمات ځانته معلوم او معضلات حل کاندی.

نو کله چه مونږ دا حکم کوو؛ چه د ټولو طبیعی او اجتماعی علومو په حادثاتو کښې استثناآت موجود دی؛ زمونږ دغه حکم قانونی او علمی او مطلق نه بلکه عندی او نسبی دی ځکه دنیا د تصادفاتو یوه مجموعه نه ده او دهغې ټول محتویات د یو منظم قانون لاندې اداره کیږی او ټول اجتماعی او طبیعی حادثات د علیت د قانون له مخې او د ډیټر مینزم په چوکات کښې پېښېږی او دیوې ذرې قدرته هم د اختیار او تصادف ځای نشته. او په دنیا کښې د یو طبیعی جبری نظام له برکته د دنیا په هیڅ مورد کښې استثناآت تبارز نشی کولای. دا چه په ځینو موارد و کښې مونږ استثناآتو او تصادفاتو ته قائل یو؛ دا زمونږ د قدرت او پوهې نمیګړتیا ده. ځکه بشر هر کله چه د یوې مسألې او معضلې په حل کولو او یا د هغو د ماهیت په پېژندلو نه دی بریالی شوی او یا له طبیعی قوانینو سره ئی د انطباق توان په ځان کښې نه دی لیدلی؛ نو فوراً ئې هغه مسأله یا مستثناء ګڼلې او یا ئې متافیزیکی قدرتونه سپارلې ده، پهر حال لکه څنګه چه د مخه مو وویل بشر لا تر اوسه دې حد ته نه دی رسېدلی، چه د طبیعی او اجتماعی ټولو حادثاتو مثبته او مطلق قوانین پلاس راوړی، نو بیا پدې عجالتاً مجبور یو چه ووایو: هیڅ علم او هیڅ قانون له استثناآتو او تصادفاتو څخه خالی نه دی، په تېره بیا تاریخ چه تر اوسه ئې لا په علمی موقف کومه مطلقه فیصله نه ده شوې.

حال (موجوده اوضاع) او تاریخ:

«یوه ډله مؤرخین پدی عقیده دی چه تاریخ باید د بشری ټولنو موجوده اوضاع یعنی د هغو د حال زمانه تر بحث او څېړنې لاندی ونیسی او د خپلو تحقیقاتو سلسله دی د ډېری تر دوری پوری ورسوی ځکه حال د ماضی زېږنده او نتیجه او له هغې نه ئې وده کړیده او په حقیقت کښې پخپله حال د ماضی جامې اغوستی دی.» لکه څنګه چه د ماضی له تدقیق نه حال څرګندېږی نو د حال له تدقیق نه هم ماضی اوضاع معلومېدای شی.

او په تاریخ کښې د تدقیق او څېړنې دغه معکوسه طریقه

یو مؤرخ په ډېره آسانۍ یوی مثبتی نتیجی ته رسوی او کوم معلومات چه د حال له تدقیق او څېړنې نه ئی پلاس ورځی نسبتاً ثقه او مستنده وی.

له پورته بیاناتو نه ښکاری چه د تاریخ هدف او دهغه د بحث موضوع، یوازی د تېری زمانې تدقیق او مطالعه نه، بلکه د موجوده اوضاعو تدقیق او څېړنه هم ده. چه بدې اساس ویلای شو چه تاریخ یو گام بل د سیانس خوا ته نژدی کېږی، ځکه موجوده اوضاع کټ مټ لکه طبیعی حادثات تر مشاهدی فرضیې او تجریب لاندی هم راتلای شی.

هکسلې یو ختیر پوهاند وائی: «زما په عقیده تول هغه علوم چه په استدلال او مشاهده ولاړ دی د ساینس تر عنوان لاندی راځی» نو څرنگه چه په تېره بیا د تاریخ په معکوسه مطالعه کښې استدلال او مشاهده ډېر زیات مورد پیدا کوی، نو د هکسلې د دغې خبرې پر بنا تاریخ یو (ساینس) دی.»

آیا تاریخ تکرار ېږی؟

له ډېرې پخوا زمانی نه را پدیخوا دغه خبره چه تاریخ نه تکرار ېږی د ډېرو خلکو له خولې اور ېدل کېږی.

او غالباً دا هغه خلک دی چه تاریخی حادثات د فردی وجدانونو او د قائدینو او نوابغو د ارادې زېږنده او د اتفاقاتو او تصادفاتو نتیجه او د متافیزیکې قواو مظهر گڼی یعنی دوی له معینیت او ډیتر میزم نه منکر دی او حادثات د علیت تابع نه بولی او هره حادثه مستقله گڼی چه مونږ کولای شو د دغه راز عقیدې خاوندانو ته دا ېډیالست خطاب ورکړو. باید وویل شی چه دا ېډ یالستانو ذهنیت له علمی ذهنیت سره ډېر منافات او لیرې والی لری.

یو پوهاند وائی: «پدی کښې شک نشته هغه خلک چه یا په تاریخی مسلو او یا په نورو اجتماعی مسئلو کښې ماتریالیزم خپل رهبر او رهنما گڼې نسبت وهغو خلکو ته چه پدغو پورته مسائلو کښې له اېدیالیزم نه کار اخلی او په هغه اتکالری ډېرې لږې غلطۍ او خطاوې کوی، او زمانه ئی هم نشی غولولای.»

نو بنا پدغه اساس د دوی دغه خبره چه وائی: تاریخ نه تکرار ېږی د علمی ذهنیت زېږنده او نتیجه نده،

ځکه دغه حقیقت چه طبیعی او اجتماعی حادثات د علیت له مخې پېښېږی او د ډیتر مینیزم تابع دی؛ د ټولو پوهانو له خوا یو منل شوی حقیقت او یو غیر قابل تغییر پرنسیپ دی.

څرنگه چه تاریخی حادثات هم عبارت دی له اجتماعی حادثاتو نه او اجتماعی حادثات لکه طبیعی حادثاتو غوندې د علیت له مخې پېښېږی او د ډیتر مینیزم تابع دی، نو بنا پدې تاریخی حادثات هم اتفاقی او تصادفی او یا د فردی وجدانونو زېږنده نه ده بلکه د علیت د قانون سره سم د ډیتر مینیزم (جبر) په تقاضا منځ ته راځی په بل عبارت یوه تاریخی حادثه همېشه د یولړ عواملو او شرائطو په اثر منځ ته راځی او د ډیتر مینیزم له مخی همیشه مشابهه عوامل، مشابهه

حادثې منځ ته راوړي. نو پدې صورت کله که یوه تاریخي حادثه دیولړ شرائطو، عواملو او علتونه په اثر منځ ته راغلې وي که آینده یعنې په راتلونکي زمانه کښې بیا هماغسې علتونه شرائط او عوامل موجود شي؛ ممکن چه هماغسې حادثه هم منځ ته راشي ددغې ادعا د اثبات دپاره لومړۍ اشتراکۍ دوره یعنې (بې طبقاتي جامعه) او اوسنۍ کمونستي رژیم ډېر یوښه واضح مثال کیدای شي. پدې کښې شك نشته چه دلومړۍ اشتراکۍ دوري او داوسنۍ کمونیستي رژیم ترمنځه زښته ډېره زمانه تېره شوېده، مګر دډېرې زمانې تیرېدل یو داسې دلیل نه دی چه مونږ لدې نه وژغوري چه ووایو: تاریخ تکرارېږي دا (زښته ډېره زمانه) دیو انسان عمر ته په رښتیا چه ډېره ښکاري، مګر د بشریت عمر ته د وي ګړۍ قدر ته هم زیاتوالی نلري. او که د زمان لایتناهي توب ته وګورو؛ نو دلومړۍ اشتراکۍ دورې او اوسنۍ کمونیستي رژیم ترمنځه دستر ګورپ قدر ته هم فاصله نشته. ځکه زمان لایتناهي اولا محدود دی، او دزمان دغه صفت ماضي حال او مستقبل نه پېژني او دا دثانیې، دقیقې، ګړۍ، ورځ، هفته، میاشت او کال مقیاسونه او حسابونه ګرده دبشر له خوا وضع شوي او عندي او اعتباري دي. په هر حال په فلسفه کښې به نه ګډېږو او بیرته به راشو خپلې اصلي موضوع ته او بالاخره باید ووایو چه تاریخ تکرارېږي او دا یو مسلم حقیقت دی. او زمونږ په عقیدې پورې هیڅ نه دی موقوف خو زمونږ دپاره به ښه داوي چه همېشه باید مسلمو حقائقو ته معتقد او معترف شو او لپاره ددې چه خپله عقیده له دغه حقیقت سره چه تاریخ تکرارېږي منطبق کړو نو باید دوه اساسه په نظر کښې ولرو:

لومړی دا چه: د تاریخي حادثاتو منشا او مبداء اقتصادي عوامل وګڼو.

دوهم دا چه: تاریخي او نور اجتماعي حادثات لکه د طبیعي حادثاتو په شان د علیت په چوکات کښې د ډیټرمنیزم (جبر) تابع وګڼو

دغه حقیقت چه تاریخ تکرارېږي که څه هم چه په ښکاره ډول له ۹ پېړۍ نه را پدېخوا دیولړ هغو پوهانو له خوا منل شوي دي چه زیاتره په ماتریالیزم اتکالري.

خو ۲۳۵۸ کاله دمخه تهیوسي ډایډز (۴۰۷ - ۴۰۱ ق.م) یو یوناني مورخ په دغه حقیقت معترف ؤ چه ویلي ئې دي:

«دیخوا نیو پېښو پوهېدنې ته خو ځکه اړیو، چه دداسې پېښو دبیا پېښېدو او بېرته راګرزېدو (تکرار) بشپړ امکان شته»

آیا تاریخ په رښتیا دا دبیا تو یوه څانګه ده؟!

«دروم زیاتره مورخین پدې عقیده وو چه تاریخ یو صنعت دی نو باید دیولیګونکي له خوا دهغه په ښکلا کښې ډېر کوشش وشي.»

«تاسیت یو رومي مورخ وائي: تاریخ غیر له یوې نطق پردازۍ نه بل ماهیت نلري.»

فلسین شاله پخپل متودولوژي

نومی کتاب کښې دتاریخ او ادبیاتو دروابطو په برخه کښې لیکی: «څرنګه چه تاریخ لکه تولو صنعتی شهکارېو دځینې فردی واقعیاتو جلوې تهاردی اود تخیل ډېره قوه په کار اچوی؛ نودهنر سره ډېر ورته والی لری او بنا یدې ممکن چه تاریخ دادبیاتو یوه څانګه وشمېرل شی» -

په همدې ډول د تاریخ په متعلق دغسې تلقیات او نظریات ډېرزیات دی. څرنګه چه طرز تلقیات اونظریات دافرادو په ذهنیت باندې بې اثره نه پاته کېږی، نودتاریخ په متعلق دغسې تلقیات او نظریات هم بې اثره نه دی پاته شوی او ډېر ذهنیتونه ئې دې تهار کړی دی چه خلك باید تاریخ دادبیاتو یوه څانګه وګڼی. سربېره پردغو تلقیاتو او نظریاتو چه دتاریخ علمی حیثیت نه ئې زیان رسولی دی موږ دتاریخ دتحول او تکامل په سیر کښې ولیدل؛ چه دلومړی ځل دپاره تاریخ دتاریخی داستان په نامه دیولړ خطیبانو او شاعرانو له خوا شروع شوی او بیاد تاریخ حکایوی او تاریخ محرر او .. په نامه تاریخونه د ادیبانو او دهغه وخت دلیکوالو له خوا لیکل شوی دی. په عمومی ډول له ۱۹ پېړۍ نه دمخه یعنی هغه وخت چه دتاریخ تاداولانه ؤ اینبودشوی څرنګه چه تاریخ دادیبانو له خوا لیکل نوطبعاً ددوی لیکنې هم ادبي او هنری رنګ درلود چه بنایه دغو شرائطو ځینې خلك په دی عقیده پاته شول چه تاریخ علم نه بلکه دادبیاتو یوه څانګه ده.

البته پدی باید اعتراف وکړو چه تاریخ همیشه په بولړ کلماتو جملاتو او بیا ناتو سره افاده کېږی او یو مورخ هم د ځینو وثائقو د تحلیل او انتقاددپاره دادبیاتو زده کړی ته مجبوردی چه له دی کبله مورخ او تاریخ ادبیاتو نه اړ دې او دتاریخ اوادبیاتو ترمنځه (چه وروسته به ئې په یو بل بحث کښې تفصیل راشی) ځینی متقابله مناسبات او تعلقات موجود دی مګردغه تعلقات اومناسبات (هغه هم متقابله) ددی دلیل نشی کېدای چه تاریخ دادبیاتو یوه څانګه وګڼو!

او په دغسې استدلال باندی استناد کول له عقلی او منطقی پرنسپونه نه لیری ښکاری. او که پدی استناد وکړو نو باید دمناسباتو او تعلقاتو اودارتیاؤ له مخې تولو علومو ته (تاریخ) وګاڼو؛ ځکه زیاتره علوم له تاریخ سره نژدی تعلقات او مناسبات لری او ټول علوم دتاریخ مرستې ته اړدی او حتی تاریخ هغونه وده ورکړی ده. خو نه اداسې نه ده! تاریخ ځانته علم دی او ادبیات ګوښې بوهنه ده.

هغه تعریف چه له ادبیاتو نه شوی دی او یا هغه صفات او خصوصیات او نور ممیزات چه ادبیات ئې لری تاریخ له هغو سره دو مره انطباق او توافق نه کوی، لکه څنګه چه دسائنس سره ئې کوی.

ځکه هغه تعریف چه له ادبیاتو نه شي او ټول لویدیزاوختیز پوهان په هغه متفق الرای دی چه وائی تولې هغه پوهنې چه په ژبه او دانسان په پوهولو او پوهېدلو

اړه لري او د افهام او تفهيم ذريعې ګڼل کيږي ادبيات دي؛

او د انسان د احساساتو او افکارو او جذباتو ترجماني د ادب وظيفه ده؛ مګر دا ترجماني به تل پداسې ډول وينا او خوازه بيان سره وي چه پر نورو باندې اغيزه وکړي او خوندوره وي»

که چيرته دا دبياتو دغه پورتني تعريف او وظيفه او نور خصوصيات او صفات له تاريخ سره پرتله او مقايسه کړو؛ نو وبه ګورو چه «ادبيات ديو عمومي قانون پابندي نلري او يو ځانله اصول نه پېږني او د متعدد او مختلفو عواملو په اثر د هر شخص او د هر محيط سره تغيير کوي، او نصب العين ئي زياتره مادي آني استفاده او يا په ماده کښې د جمال او ښکلا انعکاس دي.»

حال دا چه تاريخ د ادبياتو له دغه پورته تعريف سره هيڅ انطباق نه کوي او د ادبياتو له ټولو شروطو او د هغه له نصب العين سره هيڅ ډډه نه لګو.

لکه څنګه چه د مخه مو وويل تاريخ د قوانينو پابند او د يو ځانله اصول لرونکي دي او تاريخي حادثات (د تاريخ د معکوسي طريقې له مخې) تر مشاهدې، فرضيې او تجريب لاندې (چه ساينس په دغو درې اساسو باندې ولاړ دي) هم رانلاي شي. او د تاريخ نصب العين مادي آني استفاده او د ښکلا او جمال انعکاس نه بلکه د حقيقت ادراک او انعکاس دي.

«ادبيات زياتره د خيال او ابتکار او د موضوع د اتصال ډګر دي»

حال دا چه په تاريخ کښې خيال او ابتکار هيڅ مورد نلري او د فوستل دو کولانژ په قول چه وائي: «هغه څه چه د تاريخ د بحث موضوعات دي؛ داسې شيان نه دي چه هغه دې ګوندي د انسان په خيال او منطق کښې وجود ولري.»

نو بنا پدې په تاريخ کښې د خيال او ابتکار قدرت نه يوازې دا چه هيڅ مورد نلري او غير لازم استعداد دي؛ بلکه د ډاکټر ګوستاو لوبون په قول چه وائي: «په هره اندازه چه مورخ د ابتکار او د موضوع د اتصال د قدرت څښتن او د پېښو په پراخولو او لويولو کښې لوی لاس ولري؛ په هماغه اندازه کوم تاريخ چه ليکي نيمګړي وي» مضر دي.

بنا پدغو پورته بياناتو تاريخ زياتره له ساينس سره مشابهت لري نه له ادبياتو سره (از والډ کولپه) يو ختيز پوهاند ليکي: عجيبه خولاداده چه حتي په اوس وختو کښې هم په مورخانو کښې داسې کسان ميندل کيږي چه هغوی د تاريخ ادبي او فني خوا ته نسبت د هغه خالص علم تابه ته اهميت ورکوي او دا پخپله يو قطعي دليل دي پدې باندې چه د تاريخ محصلين او هغه څوک چه په هغه کښې په څيړنو لګيا شويدي تر اوسه دې ټکي ته نه دي متوجه شوي چه علمي دقيق مطالعات په تاريخ کښې دي.»

آيا تاريخ فن دي؟!

کله کله د ځينو خلکو له خوا تاريخ ته د (علم) په ځای (فن) هم ويل شوي دي. خو دا ددي دليل نشي کېدای چه

مونږ دی ته اړ کړی چه تاریخ
ته علم نه بلکه مطلق یوفن ووایو!
البته یدی باید اعتراف وکړو؛
سربیره پدی چه تاریخ یو علم
دی، فن هم کیدای شی، نه یوازی
تاریخ بلکه ټول مثبته او طبیعی
علوم دفن تر عنوان لاندی راتلای
شی ځکه «علم دمعرفت نوم او
فن د (علم) د تعمیل او تطبیق
نوم دی او بنایدی کله چه
ریاضی یا هندسه یا کیمیا یا فیزیک
او یا بوبل علم د عمل او تطبیق
په معرض کښی واقع اوله هغو
نه عملی استفادی وشی؛ نو هلته
دفن په نامه یادیږی مثلا د ریاضی
فن، دهندسی فن، د کیمیا فن او..
په همدی ډول تاریخ هم کله چه
له هغه څخه منظور تطبیق او عملی
استفاده وی، د (فن) نوم لخانته
غوره کوی

څرنګه چه هر علم دوه
خواوی لری لکه تطبیقی خوا او
نظری خوا: نو افاده ئی هم دوه طرزه
ایجابوی لکه عملی افاده او نظری
افاده یا په بل عبارت فنی افاده
او علمی افاده.

یعنی کله چه یو پوهاند یو
علم محض دعلم او معرفت دپاره
افاده کوي، دی ډول افادی ته
علمی او نظری او کله چه د تطبیق
او عمل او استفادی دپاره یو علم
افاده کوی، دي طریقی ته دعلم
فنی او تطبیقی افاده وبل کیږی
مثلا: یو ریاضی پوهاند کله
چه وایي اویائي لیکی چه:
۲×۲۰ = ٤ دا بیخی یو
علمی او نظری افاده ده او که
ووائی چه ۲ قلمه × ۲ قلمه = ٤ قلمه
د ریاضی ددی فورمول د غسی
افادی ته فنی او تطبیقی افاده
وبل کیږی.

په همدی ډول تاریخ هم په
دوه طرزه افاده کیږی لکه تاریخ
دمعرفت او پوهیدنی دپاره او
تاریخ د تطبیق او استفادی دپاره.

د تاریخ لومړی طرز افادی
ته علمی او نظری طریقه او د
دوهم طرز افادی ته فنی طریقه
وبل کیږی دادی اوس به دغه
دواړه طریقي بویه بل پسی وڅیړو

د تاریخ د افادی

علمی طریقه

په دغه طریقه کښي مورخ
د حادثاتو علتو نه او سببو نه له
حادثاتو نه د باندی لټوی
او د حادثاتو په جزئیاتو کښی نه
ننوزی او هر هغه شی چه معقول
سبب او حقیقی نتیجه کښی
را وباسی اوله ژوری کتنی نه
وروسته په منطقی عباراتو کښی
حسن او جمال له قالب نه بهر بیانوی
او خپل احساسات او تاثرات په
هغه کښي نه کډوی او د حادثاتو
په متعلق حکم او محاکمه لوستونکو
ته پریږدی او تاریخی حقائق
لکه څنګه چه دی هغسی ئی لیکی
ژان ژاک روسو چه د تاریخ
آفاقیت نه معترف دی وائی:

«د خواناتو دپاره د هر بد تاریخ
هغه دی چه په هغه کښی د واقعاتو
په متعلق محاکمی شوی وی،
او زیاتوي: هغه څه شی چه اصلا
لازم دی هغه بالذات واقعات
دی باید محاکمه ئی د لوستونکو
له خوا وشی که چیر ته همیشه
د مورخینو افکار د لوستونکو
لارښودونکی وی پدی صورت کښي
لوستونکی حادثات د بل چا په
ستر ګو وینی همدا چه دغه
مرستیالی ستر ګي دی یوازی
پریږدی نور بیا نشی کولای چه
پخپلو ستر ګو څه ووینی. د تاریخ
یوا لخنی غایه چه نن ئی د یو
اصول لحاظ ساتلی دی داده چه

دامکان په اندازه تېر شوی واقعات لکه څنګه چه دی هغسی تشبیت اوولیکل شی او واقعاتو ته معنی بخښل اودهغوله مخی حکمونه راویستل دیو علمی تاریخ وظیفه نه ده.»

رنان وائی «تاریخ هم یو علم دی لکه کیمیا، فزیك، جیولوجی او لپاره ددی چه تاریخ په درستی وپوهیدل شی نو ژورو څېړنو ته ضرورت لری.

ددغې طریقی طرفداران وائی «څرنګه چه تاریخ یو علم دی باید یو مورخ همیشه دو ثاثقو او اسنادو پابند وی او پخپله مورخ باید په هغه کښی خپل نظر ښکاره نه کړی او که نه باطل دی.»

دتاریخ دافادی فنی طریقه، «یدغه طریقه کښې دمورخ هدف دهغو محرکو داخلی او واقعی سببونو او علتونو میندل دی، چه دحادثاتو دظواهرو نه هاخوا لحای لری. او تول دغه حقائق په یو بلیغ اسلوب او ښکلی ترتیب یو په بل پسې مرتب او تصویر کوی.

فنی مورخ زیاتره دواقعاتو له بیان نه دزمان په ترتیب ډډه کوی او دستروو قایعو په بیان او مبنا باندې اکتفا کوی او دغه مورخ خپل احساسات هم په هغو کښې کډوی.

فنی مورخین وائی: مورخ باید دحادثاتو تول علتو نه او خواوې وسنجوی او فکر وکړی چه دغه حادثه د کومو عواملو او علتونو په اثر پېښه شو یده او کوم علت کولای شو چه دهغې له پېښېدو نه مخنیوی وکړی، او بالاخره ددغه مقصد ته درسېدو دپاره مورخ باید سوسیولوګ، فیلالوګ او آنترو یولوګ وی».

«لنډه داچه علمی مورخین دحادثاتو له ژورې څېړنې او پلټنې نه وروسته لو مړی ثقه او مثبت معلومات (دوثاثقو او اسنادو د تحلیل او انتقاد داصول په مرسته) لاس ته راوړی او بې له تزئیداو تصرفه له هغو څخه یو تاریخ مرتب کوی او دحادثاتو د علتونو او موجباتو حدس دلوستونکو ذوق ته پرېږدی. مګر فنی مورخین نه غواړی چه لوستونکی داجتماعی پېښو په پیچ و تاب کښې سرګردان اولالهنده پرېږدی او دپېښو دعلتونو او سببونو په میندلو پسې ئې غور اوزحمت ته نه اړ باسی. بلکه لوستونکی هرڅه چه غواړی سمدلاسه ئې ومومی.»

دغه ډله مورخین (فنی مورخین) وائی: «که څه هم چه تاریخ علم وی او که نه! بیاهم دهنر په حیث منل شوی او یا لکه یو هنر خدمت کوی.

اوزیانوی: مثبته علوم محض دحقائقو وچ هډوکی تهیه کوی؛ دا یوازې دشاعر دتصوراتو او جذباتو برکت دی چه دغو هډوکو ته ژوند او ښکلا بخښی.

وی دی. ګائی یو انګلیسی مؤرخ لیکی: «تاریخ له دوه خواو نه هم علم دی او هم فن دحقیقت دڅېړنې او پلټنې په لحاظ علم (ساینس) دی او دحقیقت دبیا نولو او قیدولو په لحاظ دافسانې په صورت دهنر او فن جامه اغوندی او مونږ دتاریخ دغو دواړو خواو ته

ضرورت لرو؛ لکه څنګه چه مونږ غواړو؛ چه تیر شوی واقعات په سم او صحیح ډول سره وپوهیږو هماغسې هیله من یو؛ چه تیرشوی واقعات په ښکلی ډول او په خوږه ژبه واورو او یا ئې ولولو.

او دحقائقو بیان کولای شو چه بې له دروغ پردازی او مبالغې نه په یو ذوقی او ادبی صورت سره هم وکړو.»

تاریخ دعلومو په تصنیف کښې

په علومو کښې دیو والی دټینګولو په منظور او بیا دعلومو دتقسیم دضرورت پربنا او دکار دآسانتیا دپاره؛ دپوهانو له خوا ټول علوم تصنیف شوی دی.

په علومو کښې کوم تصنیف چه دپوهانو له خواشوی دهغو په ترڅ کښې دعلومو په متعلق دپوهانو نظریات او طرز تلقیات هم څرګندیږی یعنی داتری څرګندیدای شی چه پوهان دعلومو هر یوه ته په کوم حیثیت قائل دی او په کومه ستر ګه ورته ګوری؛ پدغه لړ کې مونږ نورو علومو سره څه کار نلرو؛ بلکه خپل مطلب پسې ګرزو او هغه دا چه دعلومو په راز راز تصنیفو کښې تاریخ ته په کوم نظر کتل شوی دی! دادی دعلومو تصنیفونه په لاندې ډول بالترتیب پلټو:

دارسطو تصنیف: ۳۸۴-۳۲۲ق،م

«هغه چا چه دلومړی ځل دپاره دفلسفې په تاریخ کښې دتصنیف ضرورت حس کړ؛ هغه ارسطوؤ. ده علوم دهغو دغائې او دانسان دروحی میلان په اساس په دغو دری برخو ویشلی دی.

۱ - نظری علوم: لکه ریاضی فیزیك.

۲ - عملی علوم: لکه اخلاق اقتصاد او سیاست،

۲ - ادبی علوم: لکه شعر، موسیقی، بیان او مناظره،

دارسطو دغه تصنیف دبشر په درې استعداد و نواتکالری لکه (تفکر، عمل او ابداع) ددغه تصنیف په باره کښې «حسن عالی یوجل» لیکی: که څه هم چه دارسطو تصنیف بی اساسه نه دی خو مکمل هم نه دی او نواقص ئې پدې کښې دی چه علوم او مستظرفه صنائع ئې سره ګډ کړی او تاریخی علومو څخه ئې ستر ګې پټی کړیدی»

دفرانسس بیکن تصنیف
(۱۵۶۱ - ۱۶۲۶ م)

«بیکن چه داوسنیو پېړیو دفلسفی له مؤسسینو څخه دی علوم ئی دروحی ملکاتو لکه حافظه، مخیله، او محاکمه پربنا تصنیف کړیدی پدې ډول:

۱ - دحافظی علوم: لکه تاریخ چه په دغو دوو برخو باندی وېشل کېږی طبیعی تاریخ او سیاسی (مدنی) تاریخ

۲ - دمخیلی علوم لکه ادبیات خطابیات او مستظرفه صنائع

۳ - دمحاکمې او استدلال علوم: لکه ریاضیات او فلسفه نورو پوهانو دبیکن په دغه تصنیف باندې داسی انتقاد کړی دی

ده (بیکن) هم لکه ارسطو علوم او مستظرفه صنائع سره ګډوډ کړی او تاریخ طبیعی او تاریخ مدنی چه یو له بل سره هیڅ مشابهت نلری سره جوړه راوستی دی.»

دامپیر تصنیف:

«امپیر علوم دهغو دموضوع (مادیت او معنویت) په اساس تصنیف کړیدی او دعلومو شمېر ئی ۱۲۸ ته رسولی دی،

اوتاریخ ئې دعرقیاتو دعلومو په لړ کښې ذکر کړی دی دده پدغه تصنیف باندی هم پوهانو ډیر انتقادونه وارد کړیدی.»

داگوست کونت تصنیف:
(۱۷۹۸ - ۱۸۵۹)

«ده علوم دهغو دتاریخی او منطقی سلسلې په اساس اودعمومیت اومرکبیت پر بنا تصنیف کړیدی پدې ترتیب،

۱ - ریاضیات ۲ - هیئت ۳ فیزیك ٤ - کیمیا ٥ - اجتماعیات ٦ - حیاتیات.

مګر له تاریخ نه ئې کوم ښکاره ذکر نه دی کړی خو داسې ښکاری چه تاریخ ئی داجتماعیاتو په ضمن کښې مدغم کړی وی

دهربرت سپنسر تصنیف:
(۱۸۲۰ - ۱۹۰۳)

«ده علوم دهغو دمشخصیت اومحردیت پر بنا تصنیف کړیدی» خو له تاریخ نه ئې بیخی کوم ذکر نه دی کړی.

دعلومو دغه ټول راز راز تصنیفونه هر یو پخپل ذات اوماهیت کښی ځینی نمیګړتیاوی لری اوپوهانو ځینی انتقادونه پری وارد کړیدی، چه دلته دهغو بیانول مونږ له موضوع نه لیری اچوی. خو بالاخره کوم تصنیف چه په متودولوژی اودعالی یوجل په منطق کښی غوره شوی پدی ډول دی.

۱ - دریاضی علوم: چه دتعلیل له اصول څخه کار اخلی.

۲ - میخانیك اوهیئت: چه له تعلیل، مشاهده اوتجربی نه کار اخلی.

۳ - فیزیك او کیمیا: چه له مشاهدی، فرضیی اوتجریب اواستقراء له اصولونه کار اخلی

۳ - حیاتی علوم: چه دژوندانه دتدقیق دپاره په خصوصی ډول دفیزیك او کیمیا له اصولو څخه کار اخلی،

٥ - روحیات: چه دباطنی څیړنی اوپلټنی (تأمل) له اصول او له مشاهدې او تجریب نه کار اخلی.

٦ - اجتماعیات اوتاریخ: چه سربیره له مشاهدې اوتجریب نه دتاریخ اصول (دشهادت او وثائقو تدقیق او تنقید) هم په کار اچوی. اوزیاتره په استقرا اتکالری دعلومو دغه پورتنی تصنیف چه تر اوسه دډیرو پوهانو له خوا منل شوی زیاتره په هغو متودونو او اصولونو اتکالری چه علوم هر یو دخپل موضوع دتدقیق اوتحقیق دپاره له هغو نه کار اخلی.

دعلومو پدغو ټولو راز راز تصنیفونو کې مو ولیدل چه زیاترو پوهانو تاریخ یو علم ګڼلی او په هیڅ ځای کښی ئی دادبیاتو. اومستظرفه صنائعو په کتار کښی نه دی ودرولی خو بالاخره دنتیجې په توګه باید اعتراف وکړو چه عجالتا «تاریخ لکه فیزیك، کیمیا یو مثبت علم ندی یا لکه استرونومی (نجوم) یو مطلق مشاهده ئې علم ئې نشو بللای اونه دتربیتی علومو بڼه غوره کوی، بلکه تاریخ یو انتقادی وړوکی او حدسی علم دی» چه له ساینس سره زیات مشابهت اومماثلت اوله آرټ (فن، هنر، صنعت) سره زیات متقابله ارتباط اوتعلقات لری او «دادری وظیفې اجرا کوی: (پاتی په ۱۷ مخ کښی)

ترجمه کونکی ښاغلی واسعی
په مصر کښی دپښتنی سفارت د
میاشتنۍ مجلی «افغانستان» څخه

لیکونکی. استاد حبیب جاماتی مصری

یو پښتون په جنوبی افریقا کښی

زما یو دوست دجنوبی افریقا څخه را سره په تماس کښی دی چه «پښتون» محمود صادق نومیږی او پخپلو وطنوالو کښی په محمود بلخی مشهور دی، پدی وطنوالو کښی به داسی څوك نه وی چه دده سره ئی دده دځلمیتوب په ورځو کښی ژوند نه وی کړی او تر اوسه دی ددوی دی نه وی په زړه بلکه ډیر به داسی کسان وی چه اوس دی لاهم ژوندی وی. (لیکونکی)

یو دلمړیو غازیانو څخه:

محمود صادق یا محمود بلخی دافغانستان دلمړیو غازیانو او مجاهدینو یاد هغو کسانو څخه دی چه دشرق په زیاترو هوادونو کښی پدې پېژندل شوی دی چه ده دخپلواکۍ په لار کښی زیار اوزحمتونه (دلمړی ربړ) پنامه وړی او (۳۵) کاله کیږی چه دی دغزا اوجګړې په هغه ډګر کښی ټپی شو چه په هغه کښی دی هم شامل ؤ او پکښی جنګیده.

او پر هغه ګړۍ (۲۰) کاله تېر شوه چه مونږ دلمړۍ او وروستنۍ پلا دپاره سره یو ځای او یو لبله موسره ولیدل نو مو یو په بل ځان سره وپیژاند او زمونږ تر منځ ټینګه آشنائی پیدا شوه، دلاری په ملګری کښی زیاتره دغه نوعه ټینګی آشنائی ګانی او دوستۍ په الوتکه کښی چه په هواوی یا پر بېړۍ په بحر کښی یا په اور ګاډه کښی چه پر مځکه روانه وه پښېږی،

محمود صادق زما سره. دبحر دسفر په ترځ کښی وپېژندل چه په هغه سفر کښی زمونږ بېړۍ ډوبېدلو ته نزدی سوه ځکه چه خورا یوه بد رازه ځپه پېښه شوه، محمود صادق پدغه سفر کښی دخپل هوا دافغانستان څخه راروان ؤ او خپله ښځه «جمیله» ور سره وه او جنوبی افریقا ته روان ؤ چه دکار او روزګار ځای ئی ؤ دا په ۱۹۳۸ ع کال کښی.

افغانستان پدغو روځو کښی دبرطانیه تر نفوذ لاندی ؤ، بلکه واك او اختیار ئی دانګلیسانو ؤ، او دوی داهیله درلوده چه افغانستان ددوی دارتی امپراطورۍ یوه برخه غوندی پاته شی.

افغانستان ددوی په مقابل کښی وښوریده او پښتانه ورسره وجنګیدل تاوانونه ئی ورواړول او ماتی ئی ورکړې، او تر شاکېدلو او

وتلونه ئې اړ کړه پرمعاهده ئې راوستل چه دافغانستان خپلواکی او کانخوائی و منی.

دا په ۱۹۲۱ میلادی کال او وروسته تر یوه مشکل ربړ او یوې ترخې جګړې.

سر، مال، ګڼی ترهواد جاردی.

محمود صادق په دغه جګړه کښې هغه وکړه لکه دده په زرګونو نورو وطنو الوچه وکړه، هغه چه خپل مالونه ملکونه، دخپلو ښځو ګېڼی او پسولو نه دجګړې دمصرف دپاره دبسپنی پډول دحکومت مخ ته کښېښوول. ده خپله یوه کچنۍ توته مځکه وپېرود له او دخپلی ښځی پسول ئی حکومت ته وړاندی کی او خپل سرئی دخدای رضا او دجګړی میدان ته وروړ.

په جنوبی ډګر کښې چه دمجاهدینو قیادت سردار محمد نادر کاوه چه وروسته بیا پادشا شو او اوس ئی برځای دده زوی اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ناست دی پدغه جګړه کښې چه د «تل» په جګړه مشهوره ده محمود خوراشدید ټپی شو چه نژدی ځینی مړ ؤ، مګر ځینی جوړشو او زیاتی ددې نه ؤ چه جګړې ته دوام پسی ورکړی.

دجګړې تر تمامېدلو وروسته محمود یوه پلا بیا دخپل هیواد څخه راؤوت او ماندینه ئی وزسره بیروت او مصرئی ولید جنوبی افریقا ته راغی او خپل کار تجارت او زراعت دواړو ته ئې سره یو ځای په یوه ګړی لاس ورته کړ.

ماچه په ۱۹۳۷ عیسوی کال دسره بحر په سفر کښی دبېړۍ پربام دده سره ولیده زه (عدن) ته اودی (یوهانسبورګ) ته روان ؛

دخپلواکۍ جګړه:

زموږ ترمنځ د افغانستان دخپلواکۍ دجګړی خبری راغلې. او بلخی محمود صادق یوه

(د ۱۵ مخ پاته)

۱ - دمشا بهو خوادثو ژوره څېړنه.

۲ - دحوادثو تدقیق او آزمویل تر دې چه دهغو ددرواغ او حقیقت درجه ثابته او ښکاره شی.

۳ - ددغو ټولو حوادثو او حقائقو تعبیر »

نوټ: ددې مقالې په لومړۍ او دوهمه برخه کښی هغه مطالب چه په دغه نښه « » محدود شوی له دغولاندی منابعو څخه اخستل شویدی:

۱ - دحسن عالی یوجل (منطق) دغلام حسن (مجددی) ترجمه.

۲ - (فلسفه علوم) دفلسن شاله تالیف او دیحیی مهدوی فارسی ترجمه.

۳ - (مقدمه بر فلسفه...) دازوالډ کولیه تالیف او داحمد آرام ترجمه

٤ - (جبر واختیار) دتقی آرانی تألیف.

٥ - په هند کښی د تاریخ دتدریس د پاره پیشنهاد دوی. ډی ګاټی تالیف له انګلیسی.

٦ (تاریخ تحولات اجتماعی) لومړی ټوک دراوندی تالیف.

۷ - (مارکسیزم).

۸ - دکابل مجلی ٤۱ - ٤۹ - ۱۰۲ - ۱۰٤ ګڼی دښاغلی محمد قدیر ترکی مقالی او ترجمه.

۹ - د (اودی پښتانه) مقدمه دښاغلی عبدالشکور رشاد تالیف.

خبره وکړه چه تراوسه ئی از انکه زما په غوږو کښی ده، دا ځکه چه ده په هغه وقت کښی یوه خبره وکړه چه څو کاله وروسته دهغه خبره هغسی شوه لکه ده چه ویلې وه زما ددوست دخبرې خلاصه داوه چه د افغانستان در یدل د استعمار په مقابل کی دهغه خطر نغاره وه چه دغربی استعمار دو دانۍ دنړیدلو د شروع کیدو اعلان ئی په آسیا کښی وکړ یوازې دانګلیسی استعمار نه بلکه دټوله غربی استعمار

لس کاله لانه وه تیرشوی چه د خپلو واکۍ جنډی پر هغو مستعمراتو ور پیدې چه اوس دارو پایانو په لاس کښې دی، زموږ هیجان دهغو څاڅکو غوندی ؤچه شاعر پخپل شعر کښی ویلی دی او نیم بیت ئی دادی.

(ان اول الغیث قطر ثم ینهمر)

(باران اول څاڅکی څاڅکی وی وروسته پیاله پیاله اوری)

اوس ورسته د (۲۰) کالو تر تېر یدلو دبلخی پر خبره او وروسته د(۳۵) کالو ترتېر یدلو د افغانستان د خپلواکۍ پر جګړه او وروسته ترهغو چه ماخپل هغه دوست او آشنا پخپل عمر کښی غیرله یوی پلاڅخه بیاندی لیدلې مګر ده بې خپله مکتوبه نده یم پرې ایښی او یوه مملکت ته چه ده هجرت کړیدی دهغه ځایه څخه تل خط را لیږی، او وروسته ترهغه دده هغه ښځه چه ماپیژندله ترده دوړاندی شوی اودڅښتن تعالی رحم ته ورغلې ده تردې ټولو وروسته ماته اوس هغه خبره چه زما او دده ترمنځ په هغه وقت کښی چه په سره بحر کښی زموږ په بېړی څپولو پی کولې شوی وه پداسی وقت کښی چه زه پخپل عصر کښی د شرق د تاریخ پاڼی اړوم را په زړه کیږی، او زما ستر ګوته ددې خبری دلایل جګ در یږی چه افغانستان هغه لمړی مملکت دی چه په آسیا کښی ئې د استعمار پر لیوه ترهر چا اول او لمړی ډانګ را اخیستې او د خپل کور څخه ئی شړلی دې او دا یدل په آسیا کښی ترهرچا اول افغانستان مات کړیدې اوپداسې مرحله کښی ئی مات کړ چه نتیجې ئی نن ورځ مونږ دسر په ستر ګو وینو او ورته ګورو.

د افغانستان پرله ښوریده:

که افغانستان، نه وای ښوریدلی، او که ددوی بری او کامیابی کافی نه وای او که ئې په ۱۹۲۱ ع کښی په انګلیس دموټه په زور خپله آزادی او خپلواکی نه وای منلې د ایران به دلاسه نه وای شوی چه داسی معاهده دانګلیس سره لاس لیک کی چه دایران خپلواکی پکښی منلی شوې وی، او دهند کارنده عناصر به نه وای زړه ور شوی اود هغه هواد آزادی غوښتونکو به دغونه وطنی حرکت چه بالا خرئی دخپلواکی خوږه وږمه

په هغونه ارت مملکت کښې وچلوله نه وای کړی :

په افغانستان کښې دخپلواکۍ جګړه د نورو ګاونډیو هیوادونو د پاڅیدلو او ویښیدلو او د دې باعث شوه چه دوی هم د استعمار په مقابل کښې خپل آواز پورته کړی یا د خپلو حقوقو د اخیستلو په عرض توری ته لاس کړی ' څوئی آخری نتیجه هغه وه چه دویریدلو او ناستو افرادو له ستر ګوڅخه ئی دخوف پرده پورته کړه او هغه حقیقت ئې میدان ته را ویوست چه دغربی تفوق افسانه او دغربی قوت خرافی قصه ئی (چه دا قوت څوك نشی مغلوبولای) پرمخ درواغ او ټوټه ټوټه کړه .

دافغانستان ترخوځیدلوا وښورښته وروسته آسیائی هوادونه یو په بل پسې سره وښوریدل او د افغانستان دخپلواکی په جګړه پسې سمدستی په آسیا کښې یو لړ دخپلواکۍ جګړې ونښتی ایران 'هند' پاکستان' نیپال' تبت' هندی چین' سیلون' برما' اندونیزیا' ټولو هغه ټوټه واودله. چه لمړی تارونه تانسته ئې افغانستان په ۱۹۲۱ کال کښې غښتلی او اچولې وه.

برطانوې ' هالیندی ' فرانسوی استعمار او روسې پراختیا غوښتنی ټوله پرله پسې ړنګی شوی . دا ټوله په وروستنیو لسو کلونو کښې او دپښتنی بریالې ښورښت ترشا او وروسته:

دا یو ښورښت او ربړو چه یوازی دپښتنو دخیر او ښېګڼی دپاره نه بلکه دټوله شرقی خیر او ښېګڼه پکښې وه ' کوم شی چه عرب خوشاله کوی هغه دادی چه د دوی ګاونډی ورونو پښتنو پرظلم ' استعمار او مرئې توب پداسی فرصت کښې ښورښت وکړ چه په همغه فرصت کښې عربو هم پردغو درولیوانو برید او ښورښ وکړ .

پښتانه دعربو سره:

کوم شی چه دعربو اینه پخوی او زړه ئې ورسړوی دادی چه خپل ورونه دځانه سره په غم اوښادی دواړو کښې ملګری او اړخ په اړخ ولاړ دی ' په هغو مراحلو کښې چه د استعمار سره د حساب د پاکولو په لار کښې د دوی په مخ کښې دی .

او دا چه ننګیالی افغانستان پادشاه ' حکومت او وګړی ' درې واړه دفلسطین دمسئلې په مرسته کښې تر عربو په کلکوالی کښې کم ندی .

دخپلوۍ او دوستۍ او رښتین والی محك او معیار په ټولو عربي هوادونو کښې تر ټولو مسایلو لمړی دفلسطین مسئله ده .

ښاغلی، محمد صدیق پسرلی

یو ماښام

وزنګېدو سر دلمر، چه پر یووت د پامیر په بام
وائي وښت په خوا کښې د شفق د سرو شرابو جام

تا به وې: د ظلم له نغری نه لوګی پور ته شول
سوی او سېلی وو د حوارانو، دهسك لور ته شول

مخ ئې دلمرو نیو په جهان ئې توره شپه کړله
و ائی ړاوه فلم او بد له ئې پرده کړله

یا د لیك ملګه له انسان څخه خپه شوله
توره مشوانۍ تري د آسمان په مخ چپه شوله

یا خو د مظلوم په ویر سما جامه بدله کړه
یا خو د ظالم په زړه دنیا جامه بدله کړه

ستوری رپېدل لکه ګوهر په امیلو نو کښې
یا لکه بر منډ په سره سیلۍ او په یخو نو کښې

یا ظالم بشرو ته له قهره ریږ ه ېدل سره
سپین، سپین ئې په پټه خوله یوه بل ته کتل سره

ورځ په شپه بد له شوه خو نشو زوړ جهان بدل
هغه زوړ مضمون و ویو تیاري ئې کړ عنوان بدله

هو، دغه دستور دی په چا شپه ترورځی هم ښه شی
چا ته رڼه ورځ له توره بخته دیلدا شپه شي

چا ته شرابو نه نڅېدلو په جامو نو کښې
چا نه پټېدلو ارمانو نه په آهونو کښې

چا ته پالنګونو په پسته غېږ خمیازې ایستې
چا ته غم دخپلو پېغلو او ښکو جنازې ایستې

چا ته اشتها کولو ناز په نعمتونو کښې
څوك وږی پراته وو د یو ټوك په ارمانو نو کښې

یو پلو ساز و نه آهنګونه په پردو کښې و و
بل طرف حسنونه بې پردې هغو کوڅو کښې و و

دې خوا ته بریښنا وورنه ورځ هم شر مولې وه
بل پلو رڼا دتور څراغ له یاده تللې وه

چاور کی آرزو پسی غوښتلی په خوندونو کښې
چا ته شنې شهیدی هیلی ناستی وې په زړونو کښې

آخ؛ څنګه دنیاده، څوك په څه کښې څوك په څه کښې دي
څوك تمامی عمر په رڼا او څوك په شپه کښې دی

* * * * *

ناسته یو تیلی ته په یوه خونه کښې یوه کونډه وه
لورو ا د داغونوئې دزړه په غولی پنډه وه

یخ وو په بشر د طبیعت خوا پخه شوې وه
داهم ریښ دېده که څه غمو کښې پخه شوی وه

ځکه چه ګرمی ئې دنغری له یاده تللې وه
ضعف نه ئې ډېوه هم په وروستو سلګو راغلی وه

قوت ئی وو دزړه وینه خوښه ئې باندی نه کېده
هو، په یوه غوړپ وینه دعمر دو زی څه کېده؟

یو پلوئې ټولی آرزو ګانی اوبو وړې وې
خاورو ورنه سترګی دزلمی زوی پټی کړې وې

کوم چه دې لوی کړی په پو نګیو یا په ستنو وو
کوم چه دې ساتلی په خواریو، په بسپنو وو

کوم چه طبیعی غرېزې زړه ددې ور کړې وو
کوم چه دې برسېره په دې نن وته ساتلی وو

بل لور دواړه آئېل غمو ورځ ځنی وړی وو
ځکه چه نېستی ددې په کور ریکار ډمات کړی وو

دوړه وړه ئې هم له ووهه کور کښې چه خرپټ ئې کړی
حیرانه ئې برستن هم وه چه وکړی چه پټ ئې کړی؟

هو؛ چه یو لوڅ نشی مشکل کاردی پټیدل دبل
خرڅ مګر دیوه له وینو غواړی مړول دبل

دا تکرار بدل [ځکه چه زغ و نه تیاره څه ده؟]:

آخ .. قربان دی زه شمه'.. څه و کړم.. چاره څه ده؟..

دی' وخت کښې بو څو قدمه پورته له دې کور ځنی
کور دیوه شته من وو چه فارغ وو له هر لور ځنی

قصر ئې وو لوړ خو فکر ئې تیټ وو له وړو ځنی
کېږه ئې تر خولې ډکه' او سر لتش له ماغزو ځنی

زړه ئې په هر هر څه سوړ او سر ئې په بادې گرم
ډېر ډېر له معنا پر دی او ز ښته په مادې گرم

خو نه ئې ځلانده وه له کنو گرو پو ځنی
داسی لکه ډك گرېوان چه بر ېښی له شیشو ځنی

ښه ئې لور ېده' نیت ئې ښه وو' خو په ځان باندی
هیڅ آرزو ئې نه لېده سپېره په دا جهان باندی

پر ته له دې هیلې چه دا مځکی آسمانو نه ټول
زروای بادولای تنهاده او یاد ده کهول

ډېری آشنائې دهر چا' زښته پر دی کړی وو
لری خود خواهی د اجتماع له صحنې وړی وو

څه خبر وو خوار دیوه او بل له لوږی' تندی نه
مه پو ښته مرغان دلار له هسکی یا له کندی نه

هغه شپه که هر څو دلیلا تر ستر گو توره وه
دی وو لکه کسی چه رڼا ئې له خپل کوره وه

تودئې وو محفل' تودئې وو زړه' توده ئې خونه وه
بچ ئې اند یښنه د ساړه ژمی له شبخونه وه

یو ځلی الفت شو د فلك ورته په کین بدل
کور د خوشحالیو شو ناڅاپه په ناورین بدل

ها دزړه توته' دستر گو تور' روح روان دده
هغه د سبا امید او ځان دده' جهان د ده

ها په مرگ وارث او دزړه ستن په ژو ندانه دده
هغه په هر حال او په هر وخت کښې نشانه د ده

یو ځل ، یو نا څا په د صحت له با مه کیو تو
دپر یووت او دپلار خوشحاله زړه ورسره پر یوتو

رغښت: لکه زخمی هوسۍ چه رغړی په سرو وینو کښی
خدا یزده چه څه زهر وو پراته په ویتامینو کښی

پلارئې وو نول کړی که حرام وو که حلال د بل
وو ړزوی ئې تر غاړ و نیول شوی وو په مال د بل

یو مزدور روان شو په طبیب ، بل په ملا پسی
یو ه ئې په دوا پسی زغاستل ، بل په دعا پسی

درنګ ساعت له کوټه شول دودی او که څاښتونه وو
چاڼ شول څود ښار نو کو یوال در ملتونونه وو

پلارئې وار خطا شو چه په دې ئې هم خوږ کم نه شو
نورئې د ډ اکتر په تسلی با ندی زړه تم نه شو

ستر ګوته ئې ودریده کونډه او زامن د دې
هغه لو څه ورځ او سوړ نغری او ړنګ مسکن د دې

څو چه د انسان زړه کښی د سوز څړیکه پیدا نشی
یو سوړ او سیلی به ئې هم خولې څخه جلا نشی

څوك چه وږی نشی د نهر په حال یو هیږی نه
څو مینا سر لوړې وی باده ځنی توئیږی نه

درد چه ورته پیښ شو نا آشنا له عاطفې سره
هم دلسوزی زده کړه لکه موم له فلیتې سره

خدای ته شو راجع د خدای بیوز لو ته ئې پام شو لو
بله لارئې نه لیده خیرات ته ئې نا کام شو لو

څه بلا بریټ ئې د خوا رانو کورته ولیږل
هغه هم هغه وخت چه هغوله نړۍ و لیږی دل

څو ئې ده چاره کوله ، هسك ئې چاره کړې وه
کړه ئې د خدای د مرحمت غیږی ته وړې وه

ډك له واورو بام باندی پر یوتی وو بړستن غوندی
نوره اړیکه ئې پاته نه وه یوې ستن غوندی

ښاغلی عبد الصمد ازهر

خندامی نه راځی خو...

څه حال دی؟ شینو جانه وروره! داسې ولې بې دمه ښکارې؟

شینو چه تور رنګی هلک وه د کڼو وروځو او بر ېتو خاوند او ستر ګې ئې ننوتې وې دمخ کنجو نه ئې ښکاریده چه خوارګی په زلمیتوب کښې زوړ شوی او سپېرو شونډ وئې دده آنې اضطراب ښوده، په نیولې غږ وویل:

ته دمړې ګیډې پاړسی وایې! ځان ته ګورې او ماهم خپل ځان غوندې ګڼې! هغه خبر ده چه موږ دوږی، او سپور دپلی له زړه نه خبر نه وی.

څونډی، جه له ګالو او ښکاره څېرې نه ئې دژوند رنګ ښه او هو سا ښکاریده، موسکی شو او په لوړ آواز ئې تری پوشتنه وکړه:

ولې؟ څه پېښه ده؟ څه ټکه لوېدلې؟

شینو: هی هی! څه مې پوښتې؟ "رنګ ته مې وګوره پخپله پوه شه! حال دوینا نه دی؛ ویلی نشم*"

څونډی: رښتیا شینو! اوس دې په کوڅو کښې دچاسره نه وینم. لکه ټول چه دربا ندې قارېدلې وی!؟

خودغسی چه غریبی دې ور که شی. د کوڅی پخوانی انډیوالان چه اوس ماوینی، ستر ګې ټیټی اچوی، او کله چه زه سلام ورواچوم او خبرې ورسره کوم، په لنډ ځواب را نه تېر شی.

خبر همدا ده نو؟ رښتیا، ماته مې هم پلارووې چه: ته د خان زوی یې. د شینو سره زیاتی مه ګرځه! خلك خا ندی، هغه (شینو) خدای دښې ورځې لایق ندی ګرځولی.

خو نپو هېږم چه پلار می ولی له تا نه لیری کوی؟

شینو د سره ګل په شان سور شو او په ناامیدۍ سره ئې ځواب ورکړ:

یووخت به بیا پوه شي، او هرڅه به درڅرګند شي.

څونډی: ګوره وروره! ورك ئي کړه، لږ خو خانده چه زړه مې خوښ شي،

شینو په زوره شونډې بېر ته کړې، غاښونه ئي د خندا په څېر ښکاره کړل، او داسې په وینا شو:

څونډیه!! ور بدلی به دې وی چه څو کسه غله د چا کره ور غله، د کور څښتن یو اځی و، غلو سوټ بوټ وتاړه او ټول کور ئي ور لوټ کړ د کور خاوند خوار کی حیران ور ته کتل. دده په خپګان دیوه غله زړه و سو، وروړاندې شو او له ده نه ئي وغوښتل چه وخاندی، ده ور ته ویل چه چیشته؛ وخاندم؟ تاسې مې کور لو ټوی ء اوزه به در ته خاندم؟

غله مخ ور واړوه، بوړی (ټوپك) ئي ور سم کړ او په قار ئي ور ته و وې:

وخانده ورك شه، که نه ویشتې مې!

د کور خاوند چه ځان ناچاره ولید، غله ته ئي وکتل او په زاری ئي ور ته ووې:

غل جا نه! خندا مې نه راځی خوله وېرې به ووایم چه: هه هه هه....

دښاغلی ح. حبیب ترجمه او تتبع

کاغذ

کوم وخت چه تاسی کومه مجله یا کوم کتاب گوری او یائی مطالعه کوی او دهغه دتو رو کرښو په مرسته علمی مضامین او یا خوندوری کیسی او شعرونه لولی ستاسی ددغه خوند یوه لویه واسطه همدغه کاغذ دی نه بل شی چه تاسی په لاس کښی نیولی دې که تاسی یو سکرټ له قطی نه راباسی او دشونډو پرڅوکو ئې ایږدی او لګوی ئې. هغه سپینه ماده چه پرتمیا کوشاوخوا راګرزېدلی ده دا هم همدغه کاغذ دی.

ښه! فرضاً تاسی بازار ته ځی او غواړی چه کوم شی رانیسی کله چه لاس په جیب ننباسیء او پیسی (نوټ) راباسیء هغه هم کاغذ دی چه دو کاندار ته ئې ورکوی ء. خپل ډیر کران دوست چه بدی ورځی له تاسو څخه لیری کړی دی تاسی دی دهغو کرښو په مرسته یا دویء چه د کاغذ پرسپین مخ لیکل کیږی هغه وخت چه کوچنی ویء دلمړی ځل لپاره ددغه کاغذ په واسطه استاذ تاسی ته لیکل او لوستل درزده کړه. لنډه ئې داچه دا نوله پوهه چه تراوسه تاسی پیدا کړې ده ددغه کاغذ په مرسته ده ځکه تیرو شویو پوهانو ډیر وخت ربړونه و ګالل تجربی ئی حاصلې کړی او څه ناڅه حقایق ئې سره راټول کړل او ددغو تحقیقاتو نتیجی ئې پر کاغذ ولیکلی او مونږ ته ئې دهدیی په توګه وړاندی کړې. اوس چه پدې مسئله پوه شویء چه کاغذ زمونږ په ننني او تیرشوی ژوند کښی دومری اهمیت لری لازم ګڼم چه په همدی باره کښی څه معلومات درکړم.

کاغذ له پخوا زمانو څخه تراوسه پوری:

د کاغذ نوم د پاپیروس له کلمې څخه مشتق شوی دی چه دیوه مصری بوټی نوم دی. د ۲۳۰۰ ق-م کال په شاوخوا کښی ددغه بوټی له پاڼی څخه پخوانیو مصریانو د کاغذ په عوض استفاده کوله. ددی پاڼو څخه په مصر کښی تر هغه وخته استفاده کیدله چه چینیان د کاغذ په کشف موفق شول.

کوم وخت چه کاغذ دچینیانو له خوا لانه ؤ کشف شوی په نوموړی مملکت کښی هم د کاغذ پرځای له مخصوصو وربښمینو توټو، دباڼس دپوستکو او تور هغو شیانو څخه کار اخیستل کیده چه مستوی سطح ئې درلوده. اروپائیانو دڅاریو دپوستونو څخه مخصوصاً غویو، پسونو او نورو ژویو له پوستکو څخه دا کار اخیست څرنګه چه مونږ په پورتنیو کرښو کښی هم وویل کاغذ دچین د مملکت: پخوانی مدنیت مصنوعات دی چه دنړۍ دراتلونکو مدنیتونو ته ئې وړاندی کړی دی. ځکه دلمړی ځل لپاره چینیانو وویل: که دزړو کوا و داسې نورو نسج

لرونکو شیانو څخه خمیره جوړه
شی او بیا تر فشار لاندی ناز که
شی یو داسی شی لاس ته راځی
چه دهغه څخه د کاغذ جوړولو
صنعت میدان ته راشی. کله چه
پورتنۍ نظریه عملی شوله
یعنی دا چه دهغه وپل شوی
نظر ئې په عملی کولو گوتی
پوری شوی په رشتیا سره هم
دهغه د تطبیقید او نه وروسته
یوه داسی صفحه لاس ته ورغله
چه لمړنی کاغذ وبلل شو.
چینیانو دخپل دغه نوی صنعت
نه ښه گټه واخستله یعنی برسیره
پردې چه په دننه مملکت کښی
د کاغذ استعمالول رواج کړی
دهغه په صادرولو ئې هم پیل
وکړ او تجارت ئې هم په شروع
کړ. که څه هم چینیانو تر یوی
اوږدې زمانی پوری خپل هغه
جوړ شوی کاغذ پر خارجی
تاجرانو باندی چه په هغه وخت
کښی په تجارت بوخت ؤ خرڅ
کړ خو بیائی هم خپل د کاغذ
جوړولو راز بل چاته ونه ښود
وروسته له چینیانو څخه
جاپانیانو په ۶۰۰ کښی دې
صنعت ته لاس واچاوه د ۷۰۰

په شاوخوا کښی دچین کاغذ
جوړونکو خپل دغه پټ راز په
سمرقند کښی عربو ته وښود
هر کله چه عرب په دی صنعت
وپوهیدل نو په هره منطقه کښی
چه ددوی فاتحو عسکرو تگ او
راتگ در لود هلته ئی کاغذ
رواج کړ. دا صنعت دعربو په
واسطه شمالی افریقی ته
یووړ شو او له هغه ځایه ئی
دجبل الطارق دآبناله لاری
هسپانیی ته سرایت وکړ هغه و
چه د ۱۱۵۰ کال په شاوخوا
کښی په هسپانیه کښی دلمړی
ځل لپاره کاغذ جوړ شو او
وروسته تر ۱۲۵۰ کال نه په
ایتالیا کښی ددې صنعت دپرمخ
تگ فعالیت شووع شو.
د پورتنۍ ادعا سره سم هغو
براعظمونو چه وروسته له آسیا
څخه ئې په کاغذ جوړولو پیل
کړی دی یوروپ دی نو په دی
اساس د کاغذ جوړولو صنعت
په یوروپ کښی دهسپانوی
موریائیانو پواسطه هلته یوړل
شو. ددې صنعت دترقۍ دور
په هسپانیه کښی دموریائیانو
د ترقۍ تر زمانی پوری و،

خودنو موړی کوونۍ دصنعت سره
سم د دې صنعت سرعت هم لکه
دهغوی اوج مخ پر کښته ولاړ
ایتالیا ته هم د کاغذ جوړولو
صنعت دعربو په واسطه تللی
دی یعنی هغه وخت چه
اسلام د سسلی پر جزیرې
تسلط وموند نو ایتالویانو له
عربو نه دا صنعت زده کړ. د
یوروپ دهغی زمانې مستعمل
کاغذونه ټول دشرقی کاغذونو
په شان ؤ. په لمړنیو وختونو
کښی چه په کومه اندازه
کاغذونه جوړیدل هغو دعوامو
لپاره کفایت نه کاوه او دهغی
ورځی احتیاجات ئې دصنعت دنه
تکامل له کبله نشوای پوره
کولای ځکه د کاغذ څخه
استفاده کول په هغو وختونو
کښې هر چاته نه میسر ېدل.
دیوروپ دپخوانیو زمانو د
مروجه کاغذونو نومونه لا تر
اوسه دبرتش په موزیم کښې
موجود دی داد هغو کاغذونو
یوه ټوټه ده چه د ۱۳ پیړۍ په
شاوخوا کښې په یورپ کښې
مروج ؤ. په دې کاغذ کښې یوه
ایتالوی ستوری لیدونکی دهغی

پېړۍ دلمړنی نیمایی په
شاوخوا کښې خپل ځینی
یاداشتونه لیکلی دی په ایتالیا
کښی دلمړۍ ځل لپاره د کاغذ
جوړولو کارخانه په ۱۲۷۶
کال کښی بنا شوله بیا کرار
کرار د کاغذ جوړولو د
کارخانی بنسټونو دهغه مملکت
په نورو مختلفو مناطقو کښی لکه
فلورانس، میلان او نورو ځایونو
کښی د مختلفو وختونو سره
سم شروع شوی دی. هغه ؤچه
په ۱۵ پیړۍ کښې دیوروپ د
قاری ټول مایحتاج کاغذونه
د ایتالیا د کارخانی څخه
راوتل. په جرمنی کښی هم د
شدیدی تقاضا له کبله د کاغذ
جوړولو کارخانی دهغه مملکت
په مختلفو ځایونو کښی جوړې
شولې چه له هغی جملی نه
دوینزدښار د کاغذ جوړولو
فابریکه ترټولو لمړنۍ ده،

د ۱٤ پیړۍ په آخر نیمایی
کښې د کاغذ جوړولو زیاتی
کارخانی د لویدیزی اروپا
په مختلفو ممالکو کښی شروع
شولی نو ځکه د کارخانو دډیر
کارکولو په اثر د کاغذ
اندازه زیاته شوله او استعمال
ئې هم عمومیت پیدا کړ.
انګلستان په لمړنیو وختونو
کښی دخپل احتیاج کاغذونه
داروپایی مارکیټونو څخه لاس
ته راوړه خو وروسته په دغه
مملکت کښی هم د کاغذ جوړولو
دفابریکی بنسټ کیښول شو
په انګلستان کښی کوم سړی
چه دلمړی ځل لپاره ئې د کاغذ
جوړولو دفابریکی بنسټ کیښود
جان فات نومیده، ده د ۱٦ پیړۍ
په حدودو کښی په هرت فورت
کښی دا کارخانه بنا کړله.
امریکا هم لکه انګلستان په
لمړنیو وختونو کښی خپل کارآمد
کاغذ داروپایی مارکیټونو نه
لاس ته راوړ خو په ۱٦۹۰ کښی
امریکا دلمړی ځل لپاره په
هغه مملکت کښی د کاغذ جوړولو
د کارخانی بنسټ ایښولو ته
اقدام وکړ وروسته تر دی نوری
کارخانی هم د ۱۷۱۰ په حدودو
کښی په پنسلوانیا او ۱۷۲۹ کښی
په (مسه چوئستس) کښې جوړی
شولی په نیویارک کښی په ۱۷٦۸
کال کښی د کاغذ جولو فابریکه
جوړه شوه.

وروسته له دې چه د کاغذ
تاریخی سیر موتر یوی اندازی
وڅیړه غواړم چه اصل مطلب ته
راشم هغه دا چه د کاغذ استعمال
له ډیرو پخوانو زمانو نه راهیسی
رواج شوې دی او د استعمالیدلو
ځای یی هم نه یوا ځې دلیک په
کارونو کښی دی بلکه د بشر
د احتیاجاتو د زیاتیدو سره سم له
کاغذ نه په راز راز موارد و کښی
استفاده کیږی لکه په لیک، بکسونو،
کڅوړو، پاکټونو او مرمی حتی د،
الوتکو په وزرونو کښی هم ورځنی
ګټه اخیستله کیږی نو ځکه
کاغذ جوړونکی د کاغذ
جوړیدو په وخت کښی خپل
ضرورت په نظر کښی نیسی یعنی
که دلیک لپاره کاغذ جوړول
غواړی یو رنګ وی مګر هغه
کاغذونه چه د نوټونو قیمتی
اسناد او داسی نورو مخصوصو
کاغذونو د پاره بل رنګ ورکوی.
د کاغذونو اختلاف د خمیری
د جوړولو په وخت مراعات
کیږی مثلاً که په نظر کښی
وی چه داسی کاغذ جوړ کړی
چه زیږه پاڼه ولری نو د کاغذ
د ټکولو په وخت کښی او به

ډیری او دتکولو عمل لږ اجراء
کوی برعکس که نفیسو کاغذونو
ته ضرورت وی نو ډیر ئې تکوی
اولږ او به یکښې اچوی د لته
باید دغی نکتی ته هم اشاره وکړو
چه په پخوا نیو زمانو کښې
د کاغذجوړیدلو عمل مختلف و
لکه تکول پری مینځل او نور
لازمی عمل تول په لاس کیدل
اوس دلاس پرځای ماشین کار
کوی ځکه دتن ورځی د دومره
زیاتی اندازی تقاضا دبشر په
موته نه پوره کیږی او که داسی
هم نه وای شوی کاغذهم دومره
ته ډیر بده !

د کاغذ جوړولو ابتدایی
ترتیب :

پخوانیو چینیانو به زړو کی
اویا دتو تو او داسی نورو نو
پوستکی سره یوځای کول او په
یوه لوښی کښې به ئې لانده کړه
بیا به دالانده شوی مواد تکول
کیدل پس له هغه چه داخمیره
به دقیام حدته ورسیده نو دوی
به دبانس دلرگی نه یوه داسی
مخصوصه آله جوړه کړه هغه
آله به ئې په تشت کښې وهله
او په داسی آله کښې چه خمیره
واخلی له بلی خوانه به دې آلې
داو بو منفذ و نه هم درلودل بیا
دا دخمیری او او بو نه ډکه
آله پر یوه پاکه او ښو یه سطحه
باندی رغړوله کیدله —
درغړولو په وخت کښې به له
یوې خوا داخمیره پر سطح باندی
پاتیدله او دفشار لاندی به راتله
او له بلی خوا به له هغو مخصوصو
منفذونو څخه پر سطح باندی
او به توئیدلې بیا به دا جوړه
شوی صفحه چه لمده هم وه لمر ته
ایښودله کیدله چه وچه شی او
پس له وچیدو نه به بیا کاغذ
لاس ته راته او استعمالیده
به. نن هغه مواد چه د کاغذ
جوړولو لپاره استعمالیږی
زړو کی، بیکاره او مستعمل
کاغذونه، تریشی نسج لرونکی
بوټی او حتی لرگی دی چه د
۱۸۷۰ کال راپدی خوا په کاغذ
جوړولو کښې ورځنی استفاده
کیږی. کله چه له پور تنیو
موادو څخه خمیره جوړه شی دلوې
او عصری ماشینونو په واسطه
په ډیره زیاته اندازه کاغذ
جوړیږی که څه هم دننی عصری
ژوند څرنگه چه په نور وشقوقو
کښې پر مخ تگ کړی دی او
نوی اکتشافات پکښې پیدا
شوی دی د کاغذ جوړولو په
برخه کښې هم دا پر مخ تگ لیدل
کیږی یعنی د کاغذ جوړولو
صنعت په نوی عصری طرز سره
منځ ته راغلی دی خو بیائې هم
تولیدی اساسات هغه دی چه له
پخوانه د چینیانو سره موجود وو .

د کاغذ لمړنی مواد :

دهغو مواد لکو څخه چه دلمړی
ځل لپاره ئې په کاغذ جوړولو
له پښې (مالوچ) او داسی نورو
نسج لرونکی بوټو څخه استفاده
کړې ده اروپا او امریکا ده .
انگلستان خپل یوه زیاته برخه
کاغذ د یوه رنگه مخصوص
بوټی نه چه (اسپارتو) نومیږی
جوړ کړ دا بوټی زیاتره په
هسپانیه او شمالی افریقی کښې
شنه کیږی . سربیره پر دغو
لمړنیو موادو نن له ځینی نورو
موادو څخه لکه د کنی دتفالی،
دبانس دلرگی، جوت، پروړ او
داسی نورو مواد و څخه هم
د کاغذ دخمیری په جوړولو
کښې استفاده کیږی . د نننی

عصر د کاغذونو خمیره تقریباً
په سل کښې (۹۰) دلرګی څخه ده.
څرنګه لرګی په خمیره
جوړولو کښې استعمال شول؟
له هغې مودې نه چه د کاغذ
لپاره تقاضا ډیره شو له یوه بله
مهمه مسئله هم منځ ته راغله
چه هغه د کاغذ د خمیرې د لمړنی
موادو لېږتوب دی. یعنی د همدغې
روځې نه د دې فن متخصصین په
دې فکر کښې شول چه په کوم
بل صورت لمړنی مواد کشف
کړی دا ځکه چه د زړو کو حال
دا شو چه دا تقاضا په دوی نه
شوای رفع کیدلای دی کار
ماو کړه چه یوه جرمنی په ۱۸٤۰
کښې وروسته له ډیرو تجربو نه
په دې بریالی شو چه دلرګی
څخه د کاغذ خمیره جوړه کړی.

دلرګی خمیره:

دلرګی د خمیرې څخه د معمولی
کاغذونو په جوړولو کښې
کار اخیستل کیدلای شی او
د نفیسو کاغذونو په جوړولو
کښې بیا له کیمیاوی خمیرې
څخه استفاده کیږی او دا کار
دا ډول کیږی چه اول میده
شوی لرګی د مخصوصو آلاتو
په واسطه ښه میده شی وروسته
له هغه ځینی کیمیاوی معاملات
هم اجراء کیږی او بیا خمیره
جوړه شی. له همدې ډول میده
شوی لرګیو نه په سل کښې
(۹۰) خمیره کیږی. دا لرګی
د یوه نیم انچ په میچ توتی
توتی کیږی بیا همدغه
توتی شوی لرګی په یوه لوی
لوشی کښې یوځای کیږی وروسته
تر دې عمل دا ماده د پخولو د
مرحلې ته ورسیږی دا چه دا پخلی
څو نه وخت نیسی دا کار د مخصوصی
خمیرې په جوړولو پوری اړه
لرې چه له ۲ ساعت نه تر ۳۵ ساعته
پوری وخت ورته ضرور دی.

د سلفیت خمیره:

د دې خمیرې د جوړیدو کیمیاوی
ماده کلسیوم بی سلفیت دی.
څرنګه چه دا ماده یو تیزاب دی
نو ښائسی چه د لوښی د یوالو نه
په مخصوصو خښتو وپوښل شی
په دې خمیره کښې تقریباً د
اچول شوې مواد و نیمه برخه په
خمیرې سره بدلیږی او لاس ته
راغلی کاغذ څخه ئې د لیک،
کتاب کار اخیستل کیږی په
همدې شان داسی نور نفیس
کاغذونه ځینی جوړیږی.

القلی خمیره:

د دې خمیرې جوړیده په سودا
کیږی او کیمیاوی ماده ئې
کاستک سودا ده لرګی ئې هم
ښایی چه سخت لرګی وی. لاس
ته راغلی خمیره هم دا چول شو
لرګیو څخه په سل کښې د ٤۰
څخه تر ٤۸ پوری وی. د جاذب
کاغذونه له دغه شان خمیرې
څخه جوړیږی. که دا خمیره
د سلفیت د خمیرې سره کډه کړای
شی نو د هغې څخه د لیتوګرافی
او پاکت سازی یا داسی نورو
کاغذونه جوړیږی.

په ۱۷۹۹ کال کښې نیوکو
لاس رو برت چه د فرانس یو
عالم ؤ یو ماشین سکیچ کړ چه
نن د (فور دریز) د ماشین په
صورت میدان ته راغلی دی. په
هغه وخت کښې نوموړی کاشف
نه یوازې ماشین کشف کړ بلکه
د پورتنی ماشینو څخه ئې د ده
ماشینونه پرانګریزی قرطاسیه
خرڅونکی چه فوردریز برادرز)
نومیده خرڅ کړل. که څه هم
دې قرطاسیه خرڅونکی د نوموړی
ماشین د اصلاح په لپاره کښې

۳۰۰۰۰۰ ډالرو لګول خوبیائې هم کوم ځای ونه نیو او دوی بریالي نه شول.

نو ځکه تر ۱۸۱۲ کاله پوری تجارتي ماشین منځ ته رانه غی په ۱۸۰۹ کال کښی یو بل انګریز چه جان د کنسن نومیده یو بل سلندر لرونکی ماشین د سلندر په نامه جوړ کړ.

سره له ی چه تر اوسه د یادونی وړ کاغذونه د لاس په واسطه جوړیږی خو بیا هم د تننی عصر. کاغذ په زیاته اندازه په ماشین سره جوړیږی د کاغذ جوړولو مهمو ماشینونو څخه فوردریز او سلندر دی چه په لاندی کرښو کښی ئې معرفی کول غواړو.

فوردریز: دا د کاغذ جوړوله هغه چابک ماشین دی چه په ۲۵ فوته بره کاغذونه په یو دقیقه کښی تر (۱۲۰۰) فوتو پوری جوړولای شی.

د سلندر ماشین: د دې ماشین په واسطه ډول ډول کاغذونه هم جوړیدای شی او د کارت او جلا لرونکی یا دا ډول نور مخصوص او نفیس کاغذونه هم په جوړیږی.

کاغذ څرنګه جوړیږی؛

پخوا تر دی چه د کاغذ جوړولو مواد د کاغذ جوړولو د پاره په کسارو اچول شسی ځینی مخکښنیو فعالیتونو ته هم اړه لری چه باید اجراء شی دا فعالیتونه دادی لکه دلرګیو پری کول او دپری شویو لرګیو مینځل او پاکول. پورتنی عمل ډیر او بو ته اړ دی په همدی سبب د کاغذ جوړولو فابریکی اکثراً د سیندونو او خلیجونو پر څنډو باندی جوړیږی. اوس به نو دا خبره تر څیړنی لاندی ونیسو چه هغه غوڅه شوی ونه چه د ځنګله څخه پرې کیږی څرنګه کاغذ ځینی جوړیږی هر کله چه ونی له ځنګله څخه پرې کیږی د نقلیه وسایلو په ذریعه فابریکی ته راوړل کیږی. په فابریکه کښی د اونی په تاکلې اندازه پری کیږی وروسته له دی ته چه پری شی د یوه ماشین په ذریعه چه بارکر (پوست کونکی) نومیږی په واسطه دونی څخه پوست هیسته کیږی. بیا دا پوست شوی لرګی په اوتوماتیکی ډول سره یو بل ماشین ته چه چیر (غوڅونکی) نومیږي وړل کیږی. نوموړی لرګی په دی ماشین کښی اره کیږی او په کوچنیو ټوټو سره تبدیلیږی وروسته دا مواد یوه بل ماشین ته چه (کانفیر) نومیږی توئیږی چه د بل ماشین تلوته چمتو شی هابل ماشین چه بیا دا مواد ور اچول کیږی دپخستر (دپخولو لوی تانګونه) نومیږي دپخستر چه دیو لوی خم په شان دی په هغه کښی نوموړی مواد تر حرارت او کیمیاوی تعاملاتو لاندی نیول کیږی. په دې خم کښی او به هم د مواد و سره یو ځای کیږی وروسته چه دی د خمیری مواد ور سره یو ځای کیږی د لته یو بل کار هم غواړی چه باید دا مواد ښه سره ګډ او مخلوط شی. دا کار په یوه بل ماشین کښی چه بیټر (تکونکی) ورته ویل کیږی هغه ته اچل کیږی. دا ماشین چه یوه سرخلاص ماشین دی او ډیر دولونه په کښې نصب شوی دی څرخی او د هغه د څرخیدو سره سم د خمیری مواد و سره ګډ کیږی دا تکول تر هغه وخته دوام لری

ترڅو چه ګډ شوی مواد سره خمیره شی . کاغذ شاید راز راز رنګونه ولری چه د کاغذ رنګ هم په دغه بیتر کښی دخمیری سره یو ځای کیږی دا چه د همدغه کاغذ و نو جوړولو دپاره دخمیری انساج ښائی چه په یوه معین اوتا کلی اندازه وی .

بیا دامواد ددغه عمل لپاره یو بل ماشین ته چه هغه دانساجو د پری کولو کار کوی ورل کیږی . دا آله په جوړدان سره مسمی ده . خمیره پس له دی نه چه له دی عمل نه هم و وتله (ستف پلپ) نوم پر ا یښوول کیږی او په یوه تانك کښی سره توئیږی چه (ستف تانک) ورته وائی پس له دی تانك نه خمیره د اوبو سره چه تقریباً په سل کښی ۱۹ په ګډیږی او بیا یوه مخصوص بکس ته چه پرماشین نصب دی ورځی او په دی ډول دماشین خولی ته نژدی کیږی دا ماشین چه فوردریز ماشین نومیږی یوه مخصوص وایر لری او توه دی خمیره پر دغه وایر باندی توئیږی او هلته خپلې او به له لاسه ور کوی د اخیاره شوی مواد ورو سته د فشار تر رول لاندی راځی او هلته دفشار په ذریعه مهینیږی او ورو سته داوسپنی پر رولو نو چه د کاغذ دوچولو وظیفه لری تیر یږی ځینی نور رولونه هم شته چه د کاغذ د سطحی د اواریدلو دپاره فعالیت کوی او په پای کښی لاس ته راغلی کاغذ له یو بل رول نه تاویږی او بیا په معینو سایزونو پری کیږی او د پلو ر لسو لسپاره چمتو کیږی .

دمروجه کاغذونو سایز :

تنني مروج کاغذونه دسایز له نقطی نظره په عمومی ډول (۵) ډوله دی :

اخباری کاغذونه، د لیك کاغذونه، د کتابونو کاغذونه، دپشتی کاغذونه او د کارت کاغذونه .

ددغو کاغذونو سایزاو بر، تو پیر سره لری په امریکا کښی کاغذونه د (ریم) په حساب چه هر (ریم) ۵۰۰ تختې دی تهیه کیږی د ذکر شوو کاغذونو سایزیه لاندی ډول دی .

د لیك کاغذ ۲۲×۲۸ ،

د کتابونو کاغذ ۳۵×۳۸ ،

دپشتی کاغذونه ۲۰×۲۶ او

د کارت کاغذونه ۲۲×۲۸ انچه .

د امریکا د کاغذ جوړولو فابریکی :

دامریکا کاغذ جوړونکی فابریکی په کال کښی ۲۵ ملیونه تنه کاغذ جوړوی هغه کارګران چه په دغه فابریکو کښی کار کوی شمیر ئی ۴۰۰،۰۰۰ تنو ته رسیږی او کالنی ګټه ئی په کال کښی دری نیم بلیونه ډالره ده .

(پای)

له عربی نه:

د ښاغلی معتمد ترجمه

د پښتون سید جمال الدین په نظر کښی

دثبات اهمیت!

دی وائي: داستعمار بزګران چه یو ځل په کوم کار شروع وکړی هغه بیا نه پریږدی او دثبات په برکت سره که څه هم هغه کار خطاوی ورباندې کامیابیږی او دخپل مقصد نتیجې ته رسیږي.

ښه! که کوم کار صواب وی او ثبات ور باندې وشی ایا په هغه به انسان کامیاب نه شی؟؟؟...

دې وائی: په فضا یلو او عالی صفاتو لکه صدق، کرم او شجاعت انسان هغه وخت ستایل کېدلای شی چه دثبات نه ور کښې کار واخلی یعنی که کوم سړی یو ځل نیم کرم وکړی ده نه څوك کریم نه وائی تر څو چه په دې شی ثبات ونکړی او همداسی شجاعت او نور درواخله.

دی وائی: مایوه قصه اورېدلی ده چه خلك ئی جنید ته منسوبوی او هغه داده:

یو سړی ؤ چه بې دغلا نه ئې بل کسب نه درلود او تل په دې فعل اخته ؤ، یو ځل په غلا کښی ونیول شو او لاس ئې قطعه شو، دوهم ځل بیا ونیول شو او بل لاس ئې پرې شو، په دریم ځل ئې په پښه باندې غلاو کړه او هغه ئې هم ورنه غوڅه کړه په څلورم ځل ئې په دا بله پښه باندې غلاو کړه او هغه هم ورنه غوڅه شو، ده پخپل کار کښې دثبات نه کار واخیست او په پنځم ځل ئې په ژبه باندې غلاو کړه چه هغه ئې هم ورنه قطعه کړه چه په اخره کښې دقتل مستحق شو او په دار وځړول شو. په دی وخت کښې جنید ور باندې تیر شو او دده جسد ئې چپ کړ، چاورته وویل:

چه ایا دغله جسد چپوې؟

ده ورته وویل: چه دا کار مې دده دثبات له امله وکړ.

پښتون سید وائي: چه خدای خبر دا حکایت رښتیاوی یا دروغ مګر پوره معقول دی او دثبات په فضیلت دلالت کوی.

دی وائي: که داغل په وړو کتوب کښې مونږ دسمې تربیې لاندې نیولی وی او دپوهې او علم په لار مو روان کړی وی نو تاسې یقین وکړی چه دی به دخپل فطری استعداد په برکت سره چه دثبات په خصوص کښی ئې لری دډیرو فاضلو رجالونه به وړاندې تللی وای مثلا که ده په حربی شق کښې کار کړی وی نو دجنګ په ډګر کښې به له ده نه دثبات څښتن بل نه ؤ. (پاته په ۳۶ مخ کښی)

زما دنیا

ښاغلی م. ننګرهاری

لیلة القدر

اورو چه داهرامو یه ملك نوی یاد لګېږی.

زړو اوبې مېو وونو خپل اعزی توی کړل، وی غوړ ګې ئې راشېنی کړی غو تی ئې ونیولی. ګلونه ئې وسپړل اوبه دې سره ژمې کښی ئې پسرلی وغوړاوه.

وائی چه (نیل) او (برد) سره غاړووځی.

قاهره اودمشق یوبل ته بړبړ ورځی.

مصر سوریی ته دمینی پیغام استوی اوشکری. ناصر په ډکه خوله په سپین میدان او هسکه غاړه دعربو دعزیزولی اعلان کوی.

ابوالهول رالړزېدلی ښکاری اواهرام بیادخپلې لویی خوبونه وینی لکه په یو ناسور پرهرچه ملهم ولګول شي.

اولکه یوه شلېدلی جامه چه وګنډله شی.

وائی چه دغسی په وینه ګډو اوپه خوی بیل شو یو عربو (مصر-سوریې) خپل ختلی څانګو نه بیا راجوخت کړل.

دیوه ګل هغه پاڼی چه دمینی سیلی ترمی ترمې کړې وی، دپسرلی نسیم بیارا تولی کړی.

وائی چه عربو خپله مروره عزیزولی بیا پخولا کړه.

دمجنون جرګه دلیلا کره لاړه.

شکری- ناصر ددی وصال ریباران دی .

شکری ناصر ته پکړی په سروی .

نوی خبره نه ده .

ابوبکر هم عمر ته یو ځل داسی امانت ورکړی ؤ .

دبدر- احد په میدانو نو دالله اکبر انګازی دی .

لکه دبنی ساعد په سقیفه کښی چه دعربو دمرکزیت چغه پورته شی .

زه داسی تصور کوم چه دعربو پلار ابراهیم بابا په خپل (مقام) ولاړ دی او دخپلی شاړی شپړی زمکی دودانی - دخپلو خورو بچو دښادی دعا کوی .

ته به وائی دعربو «دانی» هاجره دصفاء مروا په غونډیو کښی دخپل اولاد دزرغونېدو دپاره دحیاتو داو بوچینه لټوی .

دژوندانه کړی دارهټ منګوتی دی .

دتاریخ په سترګو اوغوږونو کښی -دمکی-مدینی کرم او تاوده بازارونه اوښکالو لیدله، اوریدله شی .

عمرو بن العاص دمصر په لارو کوڅو کښی دعربو دښمنان ځغلوی .

دزبیر ابن العوام دتوری څرك دغلیمانو سترګی ړندوی .

جمال الدین افغان خپلی آرزو ګانی لکه دپسرلی ګلونه په مصر کښی غوړوی اورنګ راوړی .

داندلس په ګودرونو دطارق بن زیاد دتوری شرنګ اوبریښ تر ډیره په الحمراء کښی چلېږی اوانګازی کوی .

صلاح الدین ایوبی خولابل شان ادې راوړی ځوان ؤ .

* * *

ډیر ساړه بادونه هم الوتلی دی .

داتاوده نغری یخ کرخ شوی هم دی .

لکه دمړو هدیره داسی دعربو دنیاویده هم پاتی شوی ده .

دنیل سترګی هسکی شوی او تیټی شوی دی .

داهرامو درناوی کله دقاف هومره ختلی او کله دکونجکی نه هم تیت شوی دی .

دسیږنی رجب ۱۲ دفروری اول او ددلوی ۱۳ دعربو دپاره له نشر پسی دحشر ورځ شوه .

ته به وائی عمر ژوندی شو او علی له ګوره سر پورته کړ .

مامکه مدینه لیدل چه د نور پلوشی تری ختلی او ستور وسپوږمۍ پری چراغان کړی ؤ .

د بغداد مناری لکه د خلافت د دربار بیرغونه د عظمت او افتخار مجسمی وی .

خو د فلسطین په مخ رڼی رڼی د حسرت او ښکی بهېدی .

هغه د صیهونیت ماتم کی دا ډیره موده توری جامې اغوستی دی .

لمر چه را وخوت نو ده لیدلی د نیا بدله شوی وه .

مصر او سوریه هغه زړی بوډۍ نوی .

حسن او ځوانی، نور او سرور ورسره غاړی غړۍ وؤ .

مصر ته ډیر خلك ننو وتلی دی څوك موسی او څوك فرعون، په هغه ورځ چه یوسف خرڅیده نو هم په مصر کښې ډیره ګڼه ګوڼه وه .

خو دا شور وغوغا بل شان وه .

په هغی ورځی حسن د دولت په پښو کښی راښکته شو خو نن د صلح د پرښتې او د مینی د ښا پېری له پښو لاسونو نه د بدو نظرونو ځنځیرونه مات شول .

کله چه (صبری) العسلی د لکونو عربو په مخکښی چغه کړه چه :-

(مونږ په لیلة القدر کښی یو)

نو زما له خولې بې اختیاره وختل چه :-

(انا انزلناه فی لیلة القدر)

شکری - ناصر زنده باد - د عربو وحدت پاتنده باد .

نن دې په کاله کښی خوشالی ده مبارك شه

نن تا سره د کرم سړی سیالی ده مبارك شه

(د ۳۳ مخ پاتی)

دی وائی: چه غلبه او شکست په ثبات پوری اړه لری که په جنګ کښی تېښته وشی شکست راځی او که د ثبات نه کار واخستل شی غلبه ده .

دی د شرق په خلکو لګیږی او وائی: چه شرقیان صبر او ثبات نه لری او لږه سختی په ځان نه تیروی او دا خبره واضحه ده کوم برهان ته حاجت نه لری ځکه د دوی دا د بیځو ندی شپې چه ور باندې تیریږی همدا د دوی په عدم ثبات باندې دلیل دی .

د دې پور ته وینانه به تا سې ته د ثبات اهمیت معلوم شوی وی او څه نه څه خو به سرور ته وخوځوی .

ښاغلی نور محمد ترکی

د بزګر لور

د بختورې دار یا پلاس او په خورا خوشالۍ سره داوائی:

سبا اختر دی زما کالی کړه راته تور دوبی
له خیاله ډکه یم غوټې ور کړه څلور دوبی

هوا رښتیا چه سبا اختر دی او لوی واړه هغه ته خوشحالۍ کوی.

کوچنیان لاس زیږه کوی چه د نکریز ور نګ ښه واخلی او سهار ئې لاسونه تر هر چا ښه واېسی او په دې ډول د لاس سره کېدو مسابقه وګټی!

پلار ئې په بې انګړه خونه راننووت او بختورې سمدلاسه داریا یوې خوا ته کېښو د له اوورمنډه ئې کړه. د پلار په غاړه کښې ئې دواړه لاسونه واچول او ور پوری ټال شوه.

په ډیره مینه ئې ورته وویل:

باباجانه!- اوس می د.... خان لور ولیده چه په اوربل باندې ئې درې لړه سپینې روپۍ قطار کړې وی او هم ئې ویل چه پلار ښه آمیل او یو سور پېزوان ورته ښلی دی چه د اختر په سهار ځان پری ښایسته کړی. نو دا ته ولی ما ته څه شی نه راوړی؟ تل وایی چه غاړکۍ به درجوړوم، خو نه دې کړه را جوړه! هغه بله ورځ دې ویل چه نن باید په تنکۍ رشقه ګوزاره وکړم او نه ژاړم نو بیا را نه اوږه راوړې او غلمینه ډوډۍ را کوې!!

خو تن دی بیا څادرتش راوړ او داسی بریښی چه هیڅ شی دې ندی موندلی راته و وایه باباجانه.....!..... خان ولې خپله لور او زامن داسی ښه ساتی. او داوربل دپاره ئې تکې سپینې روپۍ چه له ورایه رونې ځلېږې راوړی، خو ته ئې وما ته نه راوړې، زه در باندې ګرانه نه یم که څرنګه!!

د پلار ئې په سترګو کښې اوښکی وګرزېدی او دې معصوما نه پوښتنو او داچه ورو سته له دومره سر ګردانیو څخه ئې بیا هم یو کټوری او یو څه نکریزی ندی موندلی، ټول ځان ئې په جوش راغلی دی او نژدې ؤچه لویه کریکه ئې تر خولې ووځی.

بزګر په خورا تکلیف، ته به وائې چه په ستونې کښې ئې لویه دانه ختلې ده ورته ئې وویل: زویه! هغه ئې لری چه ورته راوړی ئې-زه خوار ئې له کومه کړم.....؟!

بختوره: نو ته ئې ولې نه لرې چه هغه ئې لری؟!

پلار: وائی چه هغه ته خو خدای ور کړی دی زویه!

بختوره: نو خدای ئې مونږ ته هم ولی نه را کوی؟ هله ژر شه راته ووایه ولی خدای مونږ ته هم نه را کوی؟ درځه چه ورشو او ورته ووایو چه مونږ ته ئې هم ولی نه را کوې؟

په دې وخت کښې ناڅا په د.... صاحب ناظر راغی د بزګر چه پر هغه سترګې ونښتلې سمدلاسه ئې واښی وانۍ وختلې او ټول حواس ئې بایلل، خوار پر هغه ځای مېخ پاتی شو او صرف دومره ئې وویل:

کاشکی، خو خوار غریب خلک په دنیا مه وای پیدا، ته به وائې

چه عزرائیل ئې روح اخیستلو
ته راغلی دی، ناظر په داسی حال چه
لغتې ئې ورسمې کړې ترشو تډو
لاندې ئې وویل :
خدای دې خوار کړه! ته هم ځان ته
مسلمان وائې! دخلقو حق نه
ور کوې او ځان په یوه اوبله
کوې! هغه وخت چه مړی دې
بې کفنه او بې سرشتې پر تشه
توره ځمکه پروت ؤ،
خود ..... صاحب لاس او
پښې دې نیولی چه درته پور
در کړی اوس چه دی دمه سمه
شوه نو ځان پټوې .
که دې ددی لور دچیغو بغارو
لحاظ نه وای او ځان ئی نه وای
در باندی غوړولی ؛ نو زه به
درسره جوړ شوی وم . ده په ډیر
عجز او احترام ورته وویل چه
ناظر صاحب مړی خومې نه دی
کړی چه دومره راسره شدت کوی
.... ! نن اوسبامی پرپېږده چه
دا اختر لږ څه په قراره تېر
کړم او ددی نجلۍ چه سبز کال
ئې مورمړه شوې او خوراعمجنه
ده ، فکر غلط کړم ... ...
وروسته ترهغه چه مې هرچېر
ته بیائې درسره ځم او په هره
ډوله کښې می چه اچوی خوشاله
یم ځکه چه اوږې خوبه مې له
دې دومره غمونو او فشارونو څخه
لږی سپکې شی !
خدای وهلیه! ترمړی کولو بدتر
کار و نه کوې ! سبز کال
خودې دبز گری غنم ترڅو چه
مونږ در خبرېدو نورو خلکو ته
په پورو کښې ور کړل او ...
صاحب چه څوڅو ځلی ئی درته
په ډیره کښته گټه په (سلم) روبۍ
در کړې دی هغه دې هېر کړ !
های های بی انصافه ! اوس
نورې خبری مه کوه درځه در
ولاړ شه پخپله د ..... صاحب
حضور ته دې بیایم؛ هغه یو شریف
او زړه سواندی سړی دی ،
گوندې په یوه ښه او آسانه
ډول درسره فیصله و کړی او لوږی
دی دده دپور له بار نه سپکی
شی .
ورځه درولاړ شه چه بیا نا
وخته کیږی ! بز گر چه هر
څومره کوشش و کړ ؛ فائده ئې
ونه ښندله او په پای کښې ئې
لور دیوه خپل کره وروستله او
پخپله له ناظره سره ولاړ .
بز گر ئې دانگړ په وره کښې
گښېناوه او پخپله ناظر ورغی،
او .... صاحب ته ئې د بز گر
دناداری او دهغه در اوستلو کیفیت
ووا یه ..... صاحب وویل
چه ته ئې په خو نه کښې ښه
و گرزیدلې؟ ځکه چه دا خلك اوس
دپور او پور وړو دومره خیال نه ساتی
غنم په ځمکه کښې ښخوی او که
کوم کالې یا کمپله لری هغه هم
خوند کوی؛ ناظر ورته وویل
چه غیر له یو زړو تلتک یوی
خاورینی کاسی، یوه چر گه او
یو څه بروزی چه دنیالی په
ځای ئی استعمالوی او پری
پرېوزی بل شی ئې په کور کښې
نه ؤ، مگر هوا یو خورا ښه شی ئی
درلود چه که درته ووایم ته
صاحب به ډېر پری خوشاله شی،
هغه دده یوه لور ده چه که څه هم
کمندره ده خو خورا ښکلې ده
موږ ئې هم دا یو کال دمخه مړه
شوې ده که دې په یا دوی
دهغې د کفن او نورو لگښتو
دپاره بز گر ستاسی نه په (سلم)
رخت او رویۍ هم اخستې وې
..... صاحب ناظر ته وویل چه
ورشه ملا صاحب راوله او بیا به
نو بز گر دې خونې ته راولی.

ملا ته ئې وويل چه ته خو خبر ئې
چه زما څلورمه ماينه خو په دې
وختو کښې مړه شوه او اوس
صرف دری ماينې لرم : دلته
.... يو بزګر دی چه يوه لور لری
او زما پور هم خورا پرې ډير شوی
دی چه هغه نشی را کولی نو که
دی په دې مسئله کښې مرسته
وکړای شو ای ښه به وې
دغلته ؤ چه بزګر په ناظر
پسی راننووت او ..... صاحب
په خورا پټکه او غضب سره ورته
وويل چه ګوره دا ستا څرنګه
مسلمانی ده ؟! حق مې درباندې
دی خو هغه ترځان نه را تيروې
ولې ؟ ظالمه ؟ مونږ دا پيسې په
..... ګټلی دی څه ؟ ملا صاحب
بزګر داسی مخاطب کړ : په کتابو
کښې ئې راوړی دی چه د مومن
حق ور کول خورا لوی ثواب لری
او په هغه جهان کښې ډير اجرونه
لری ای بزګره ! که ته د دغه....
صاحب دين ترځان ورتير کړې
نو البته برسيره پردې چه له دنيائی
سرګردانيو څخه به ځان
وژغوری د هغه جهان ثوابونه به دې
هم ګټلی وی په هره توګه چه
کولای شی د ..... صاحب سره

تيره وکړه او په حق ئې ورسوه !
بزګر سر او خوله ورته کښه
وکښه اووې ويل : صاحب او الله
که هيڅ شی را پوری پاته شوی
سبز کال خو به لا څوك بزګری
هم را نکړی ځکه چه يو زوړ
غو ئې چه مې درلود
او په هغه مې بزګری
موندله هغه هم څو ورځې دمخه
ستا ناظر په بورو کښې راڅخه
بوت ! دغو مره نه لرم چه ماښام
ئې پر تبۍ واچوم ..... صاحب :
دا مکر ونه او حيلې چل ول
باندې زه نه پوهېږم پور مې
راوړه اوس ئې راوړه ! پر دغه
ځای ئې راسره فيصله کړه !
زه يوه پلا د باندې ځم ؛ ملا
صاحب او ناظر به درسره خبرې
وکړی .
زه په نور څه نه پوهېږم خپل
پور پر دغه ځای غواړم .
پرېږدم دې نه !
ناظر ورته وويل : اې بزګره
خدای خوار کړی ئې !
د..... صاحب په پښو کښې
به ورلوېدلې ! او په ژړغونکی
ږغ به دې ورته ويل چه :
د خدای دپاره ! زه هيڅ پيسې

او جايداد نه لرم صرف يو سر
لرم او يوه لور چه دواړه به تر
تاجار کړم ، ګوندې زړه ئې
درباندې سوی وای او
فيصله ئې درسره کړې
وای په يوازې (نشته)
ويل خو د خلکو پورونه نشې
ادا کېدلای .
ملا صاحب وويل :.....
صاحب خورا زړه سواندی سړی
دی سخی طبيعته هم دی د چا
دنېکۍ پور او خبر پر ځان نه
پرېږدی . د خدای پرلار هم خورا
سم دی زکوة هم په جګه ملا
ورګوی ؛ زه به يوه خبره درته
وکړم بايد هغه ومنې او عمل
پرې وکړی چه له هره جنجا نه
خلاص شی هغه داده چه لور دې...
صاحب ته ورکړه په دی ډول
هم به دی لور په نس مړه وی او
هم به په تن پټه ، آرامه وی
او هم به ته له دی سيمې بېغمه شی .
ناظر پری غږ کړ چه : زه او ملا
صاحب به دواړه کوشش وکړو
چه .... صاحب په دی فيصله
او سوله رضا کړو په دی وخت
کښې د ..... صاحب ميرزا
راننووت او د بزګر حساب صورت ئې

ور واچاؤ چه تولې (۳۵۰۰) افغانۍ شوی دی .

بزګر وویل چه د خدای دپاره وړه لور پر (۳ بنو (۶۵) کلن سړی ته څرنګه ور کړم ! یه! یه! دا کار نشم کولای .

خپله یوازنۍ لور په اور کښې نشم اچولای! مړمې کړۍ پوست مې و کاږۍ خو دا کار نه کوم او خپله یتیمه او ماشومه لور د بدبختۍ په کنده کښې نشم اچولای ... بل دا چه ماخو تولې (۱۲۵۰) روپۍ وړې دی اوس (۳۵۰۰) ولې شوی؟ ناظر ورته وویل چه د (۱٤) میاشتو ګټه ئې نه شمیېرې ! والله که هېڅوک په دې نازله ګټه روپۍ چاته ور کړی ! بیا ناظر ملاته وویل چه د خدای خوار کړی خو په خپله ګټه او نقص نه پوهېږی! مونږ ئې سمې لارې ته را کاږ و خودی چپې ته ځغلی . د لور د ور کولو خط و کاږه او ګوته ئې پرې ولګوی . خلاص ! سمدلاسه قلم او کاغذ آماده شو او وې لیکل: « اقرار و اعتراف صحیح و شرعی به صحت عقل و تندرستی ... » وروسته له څو نصیحتو، تهدید و او تشویقو ئې دده بټه ګوته پرې ولګوله او په دې ترتیب د نقلو ډک دسمال ملا صاحب واخیست او په خپله مخه ولاړ ..... !

..... صاحب ناظر ته وویل چه دا نجلۍ په ډمامومه راولی ځکه چه اول خود خوار بزګر لور ده او دا زمونږ حیثیت ته زیان رسوی دوهمه دا چه وېره ده چه دا فعل به پر نورو بزګرانو بده اغیزه وکړی سبا د اختر ورځ ده ورشه او یوه سپین سرې ښځه هم درسره بوځه او نجلۍ ترېنه راوړه، دهغه کلی ... خان نه هم ووایه چه کوم وخت راشی.

سبا پرهر چا اختر ؤ، خو بختوره خوار کۍ ئې بې لدې چه په خپل شوم سر نوشت وپوهېږی را رهی کړه، پر لارې ئې ورته وویل :

مه ژاړه د «انا» کره دې بیا بو هلته به نوی ټیکری او کمیس، پسته غلمینه ډوډۍ او موچنې در کړو .....

څو وخته وروسته مو واورېدل چه بزګر خوار کی له ډېره غمه ځان په سپرغه کښې وا چاؤ او وویل کېده چه لور ئې هم د.... صاحب په کور کښې خورا د بد بختۍ ژوند یوازې ددې دپاره تیروی چه ګوندې کوم وخت وکړای شی د ځان او دپلار د بدبختیو کسات له ظالمانو نه واخلی او خپل غمجن زړه سوړ کړی .

نو دا باید ووایم چه مونږ هم ستاسی نه کمزوری نه یو. شکر دی خدای دې دحکومت سیوری زمونږ له سره نه کموی (حواله دارته اشاره) دسوتی په زورئی هم درڅخه اخستلای شو، البته هغه وخت به نو بیا تاسو گیله نه کوی ء! پخپله تاسو ته معلومه ده چه زه دپیغمبر(ص) اولادیم زما روپۍ هیڅوك خوړلی نشی.)

یو بل سود اگر ځان وښوراوه اود (حاجی آغا) خبره ئی غبر گه کړه او په داسی حال کی چه دتورو نسو اروپة ډبلی باندی دسپینو زروښکاره کېده لوبی گولې او مخ ئې داسې پرسېدلی ؤچه ته به وائی مچۍ خوړلی دی وویل چه :(پوونده پرمونږ ډیر گران دی مونږ ددوی ډیر مراعات کوو، ځکه چه همدا پوونده ز مونږ باغ دی، که باغ ودان ؤمونږ ودان یو، او که باغ خدای دې نه کړی خراب ؤمونږ ورسره خراب یو. مگر دانو دامعنی نه لری چه پوونده دې زمونږ سپینې روپۍ وخوری. مونږ هم دا پیسې په آسانه او مفتی ندی گټلی، بلکه مونږ ډیر ربړونه او خواری گاللی دی، تندی موخولې کړی دی، دغه ستاسی وړۍ که تاسو خبرشی چه مونږ ئی په څه چمونو خرڅوونو راته حیران به شی.

لوئی لوئی اعانی ورکوو. دمکتبو، شفاخانو، او دښاروالی سره مرستی کوو که زمونږ خدمت نه وی نو ټول خلك به لوڅ لغړ وگر ځیږی، مړی به موبی کفنه ښخ وی، که تاسوله مونږ سره ښه معامله ونه کړی اوخپل حق تر ځان را وړاندی نه کړی نو تاسو پخپله فکرو کړئی چه مونږ به خپل ملك ته دا دو مره ښیگڼی او مرستی په څه ډول رسوو ؟؟؟)

ملك یا خانصاحب چه تراوسه پوری خوراپته خوله ناست ؤاو په یوه لاس ئی ۳۳ دانه ئی ژیړی تسبیح اړولې چه خسرئی له مکی شریفې نه ورته راوړی وې ، او بل لاس ئی په بریتو او زبره باندی واهه ، او دسودا گروخبرو نصیحتو او تهدیدو نوته ئی غوږ نیولی ؤ ، په داسی حال کښی چه په دواړو ځنگونو ئی دواړه لاسونه را گرځولی وو او چه کله نا کله به ئی دشا خواته زور او لنگر وکړ نو یښی به ئی له ځمکی څخه لږ څه جگی شوې ، وویل چه :

(پوونده خودو موه (خوړلې شومه) هم ندی چه هرڅوك به پیری تیری کوی. دزور او سوتی خبری بایدیوې خواته کښیږدی . داد پوونده و کلی خو زما اسامیان دی ، زه به په هره توگه او کړه چه وی له دوی څخه مدافعه وکړم که می ملاو تړله اوقصدمې وکړ تر کابله پوری به ئی درسره ووهم . داسې ترمونږ هم گمان مه اړوی) .

یو بل پونده سپین ږیری دملك خبره پسې تائید کړه او وې ویلی (مونږ په توله معنی په خانصاحب پسی ولاړیو . پوونده به البته خوار وی مگر بی غیرته خوو الله که وی ، هم دسوتی زور لرو او هم د (کوتی) مونږ په هیڅ وجه حاضر نه یو چه تاسو نه تردې اضافه وړی در کړوستاسو دپیسو زیاتره برخه مود وړیو در کولو په مقابل کښی در ادا کړ .

اوس ممکنه نه ده چه دپاتی جز ئی پیسو په عوض کښی هم وړی در کړو ، ځکه چه وړی نه لرو او پخوا مولا خر څې کړی دی . هرې خواته چه مو بیا یاست حاضر یو ، که موبندیانوی هم څه یکښی نه وایو ، خو وړی نشو در کولای) نورو هغو پوونده ووچه هلته حاضرو و هم ددغه سپین

زیری خبره په یوه خوله تائید کړه، او داچه وړی نشی ورکولای په تینګه او په یو آواز ئی وویل . دخانصاحب خبره ددې ډلې له خوا هم بسې غبر که شوه او خپله کامله مرسته ئی له ده سره څرګنده کړه

په دی حال کښی (حاجی آغا) دولاړ یدولو هڅه او اراده وکړه چه دده پیش خدمت له څانګ (وزر) څخه ونیو او ولاړ ئی کړ. نورو خلکو غوښتل چه له ده سره ولاړ شی خوده دخپل لاس په اشاره ټول په ځای کښینول، خو حواله دار دتیار سی په حال کښی ودرېد او د(حاجی آغا) خواته ئی په ځیر ځیر کتل او داسې وضعیت ئی اختیار کړ چه ته به وائی د(حاجی آغا) په اشاره به اوس دغه ټول حاضرین په رسی وتړی او په وهلو باندی به ئی پیل وکړی.

(حاجی آغا) په داسی حال کښی چه (ملك صاحب) ته ئی دراولاړ یدو اشاره کړه وویل :(هر څوك لوی ؤ کوچنی ځوان ؤ سپین زیری، مشر او کشرلری دا داسې خبره نه ده چه په څلورو، پنځو خولو فیصله شی، تاسو که نو کی ساړه شیء او پریږدیء چه دمشرانو ترمنځ خبری اتری وشی، ګوندې یوی فیصلی ته سره ورسېږو، که نه وی زور خو به هغسی هم سره معلوم کړو.

(حواله دارته اشاره)

(حاجی آغا) او ملك دواړه د خیمی خواته روان شول. د ملك لاس دحاجی آغا په لاس کښی دی، مخ ئی راواړوه او خلکو ته ئی وویل چه مونږ به سمدستی بېرته راشو.

د ننه په خیمه کښې (حاجی آغا) ملک ته وویل چه: (ستا خولا پلار زما آشنا ؤ تاولی داسې کلکی خبرې وکړې. مونږ وتاسی خو سره یو شی یو، بایدزما گټه دځان وبولې، لکه مونږ چه تل ستا گټه دځان بولو، خپله لنگۍ دې پوره واخله خودانور پوو نده راته مه بدرا کوه، او په دې مومه سر گردانه کوه چه حکومت ته خبره ورسوو او هغه ته ئی په لاس ور کړو، ځکه چه هلته بیا مونږ ته څه نه را جوړ یږی او غوا به بل چاته ورلنگه کړو) یعنی خبره داده ملک صاحب! چه زمونږ او ستاسو له لاسه به هرشی ووځی او هډو کی به دبل خولې ته ور شی. پر یږده زو روره خپل (لاس سره) واخله او له دغو خلکو څخه مولاس وکاږه.)

ملک په خورا پسته او نرمه خو په فاتحانه ژبه ورته وویل چه:

(حاجی آغا! که می داسی پیشرو نه وای و هلی بیا پوو نده و و دومره اعتبار په مانه کاوه، دملکۍ چلو نه خو بیل دی، هر کار چل غواړی خو ملکی (ول) هم غواړی ته خو پو هیږی چه زه په څو لحاظو ستا خاطر کوم او هیڅ وخت به ستا له امر څخه غاړه ونه غړوم. او په دې هم پوه ئی چه ستا یو نوک به ددغو ټولو کوچیانو سره برابر نه کړم. خبره داده چه باید زمونږ برخه پکښی وکړیء بیا چه هر څه کویء هغه وکړیء قاعده خود اسې ده چه تاسو باید لومړی له ما سره کتلی وای او له ماسره مو خبره جوړه کړی وای، وروسته له هغه نه مو چه هر څه کولای، کولای مو شوای. د فارسی ژبی دا متل موندی اوریدلی چه وائی: (باملك بساز ده را بتاز) یعنی له ملك سره ئی جوړه کړی بیا نو که ټول کلی چور کړی پروا نه لری، خیر دی اوس هم نده تیره

(حاجی آغا) سمدلاسه دوه دري نور سوداگر دننه خیمی ته وروغوښتل او هلته ئی ددوی په مصلحت دملك صاحب سره خبرې شروع کړې او روسته له ډېرو خبرو او دلائلو نه داسی فیصله وشوه چه هر څه وړی چه دیوو نده وو له دغه کلی څخه بودې شی شپږمه برخه به ئې ملك ته د (لاس سره) په نامه ور کوي او تولو حاضرینو پدغه فیصله باندی امنا او دعاو کړه.

په دغه وخت کښی دوو دریو پونده وو چه لڅ لپړوو په څنګو سره و وهل او یو دغه بل ته وویل چه کاشکی داخبره مونږ پخپله له سوداګرو سره فیصله کړی وای ګمان کوم چه سوداګر به ده (خان صاحب) ته پټه برخه ور کړی او اوس به فیصله زمونږ په نقص وشی.)

هغه بل ورته وویل چه کاشکی مونږ دومره خوله درلودای چه دا ډول فیصلې موکولای شوای، له ملك څخه بموڅه غوښتل، نه دې دی اوریدلی چه وائی (نر ملکه شی نو ور که شی.)

ملك په داسې حال کښی چه تسبیح ئی ژر ژر پګوتو کښی اړولی له خیمی نه راووت او حاضرینو ته ئی وویل:

(ډېر زور مې له دغه مسلمانانو سره وواهه، خو دوی خواران هم حق په جانب دی څه وکړی دوی هم تل غواړی چه دخپل عیال دپاره یوه خوله مړی پیدا کړی ددنیا کارونه یو په بل اړه لری؛ که دوی پرمونږ او تاسو یو څه ونه ګټی نو ئی پر چا وګټی؟ آخر دوی هم باید څه وخوری.

یاره خلکو زه غواړم چه له دغو سوداګرو سره یوه فیصله وکړم، تاسو به هم څه نه پکښی وایاست.

بیاملك دلاس تسبیح په جیب کښې واچولی دهغو په ځای ئی دنسوارو اوږد دبلی راو کیښ چه رنګ ئی سپین اوڅو اوږدې، اوږدې لیکی په کښې ایستلی شوی وې او دکیڼ لاس یوه ګوته ئی ورننه ایستله اوورو، وروئی نسوار ور ځنی په ګوته وګرول اوخپلو خبرو ته ئی دا ډول دوام ور کړ؛

(مونږ هم باید حق ته غاړه ګیښږدو. داڅر ګنده ده چه هر څوك آخرت لری او حساب ؤ کتاب لری سر بېره پدې خو خدای شته. باچا شته! که دغو خلکو ته خپل حق ترځان ورتیر نکړو ښکاره خبره ده چه دباچائی دعدالت پدام به ګیر شو او هغه وخت به هرو. مرود دغو سوداګرو حق ور کوو، نو ښه داده چه غو ته چه پلاس خلاصیږی په غاښوئی خلاصه نکړو.)

یو سپین ږیری چه هغه هم پوروړی ؤ پداسې حال کښې چه نسوارئی یوې خواته تو کول ورته وویل: (ملك صاحب! چه ما دتول کاله سره په کړائی کښې وایشوی وړی به راباندی بودې او جوړی نکړای شی. هو هغه څه پیسې چه ئی راباندی پاتی ګیږی هغه به په هره تو ګه چه وی ور پیدا کړم او دد وی غاړه به پرې وباسم. ما به وړی هم ور کړی وای، خو درته قسم خورم چه دلاسه می ونلی دی او اوس یوه کلوښه وړی هم په کور کښې نلرم، ځان خو وړی کیږی نه

له حاضرینو نه یو بل سړی هم دغه ډول وینا وکړه، خو ملك ورته وویل چه (یوه ستر ګه به مو ژاړی او بله به مو خاندی دخلکو وړی به ور کوی، بله چاره مو نشته.) بیائی دیو بل سړی په غوږ کښې ورو وویل چه: (ته جګ شه او ـ ووایه چه: ددغو مسلمانانو حق په هکسه غاړه ور کوم، او له هره ځایه چه وی ددوی هغه وړی به ور کوم چه پرمائی حق کیږی. البته ستا (لاس سره) به نه هېروو او له سوداګرو به درته پوشی واخلم.)

(حاجی آغا) ملك ته مخ راواړاوه او په لوړ آوازئی ورته وویل چه :
(که څوك ستا له امره او حق ور کولو څخه غاړه غړوی نو مونږ کولای شو
چه دغوږو تاوور کړو (حواله دار ته اشاره) امرور کړه چه یو څه شنې لښتی راوړی.
دا خلك دزور مسلمانان ښکاره کیږی چه یو واری خود می شی البته هغه
وخت به نو په لاره سم روان شی .)

حواله دار له خپلې ملا څخه غمچینه راخلاصه کړه او هم ئی نورو محصلانو ته
امرور کړ چه غمچینې مود ملانه را ایله کړی. بیائی (حاجی آغا) ته په یسوه
(پو که) لهجه وویل چه : لښتو ته حاجت نشته، ستا د دعا له بر کته مونږ تل ملا
تړلی گرځو. که ستاسو امروی اوس دستی به ئی درته په لار کړو. د غمچینی
زور به ئی داسې قائل کړی لکه بلبل !

سمدلاسه ئی هغه څو کسان چه دوریو په نه ور کولو کښی ئی اصرار کاوه
راڅملول او ښه د بوسو خوسی ئی ورځنی جوړ کړل. په نتیجه کښی ځینی قائل شول
او دوریو په ور کولو ئی رضائیت ښکاره کړ او ځینو ډېرو لا دوریو ور کولو
نه غاړه غړوله .

ملک (حاجی آغا) ته وویل چه: که ئی مړه کړی هم گمان نکوم چه څه پرې جوړ
کړی، ښه داده چه یائی پر بږدی، او کوم ډول تیره او مرعات ورسره و کړی.
او یا دا چه حکومت ته ئی کش او هغه ته ئی په لاس ور کړی چه بندیان ئی کړی
یو بل سوداگر (مخ پر سېدلی) (حاجی آغا) ته وویل چه: (کوچیان له بند
څخه خورا ډار بږی. مرک قبلوی خو یوه ورځ بند نه منی، که ئی بندیان کړې
ژر به څه ترینه بودشی، که نه وی په بل ډول باندی نه کیږی .)

(حاجی آغا) ورته سو که وویل چه: که بندیان شول نولاس ورځنی پریمنځه ځکه چه زمونږ له لاس او اختیار نه خبره وځی. نور به پرې ماړه شی او مونږ ته به هیچ په لاس را نه شی ښه داده چه به هره توګه چه وی (تیره) ور سره و کړو.

ټول حاضرین سره کوټی، کوټی کېدل. چاویل له سره ئی نه ور کوو. چاویل چاره مونشته چه ورئی نه کړو هم به سر ګردانه اولالهنده یو او هم به خورا ستر تاوانونه راواوړی. ملک د سوداګرو ټولی ته وویل چه:

که تاسو خپل پخوانی قول او وعده زما په حق کښې ساتی نو زه به یوه لاره جوړه کړم، داسې لاره چه نه سیخ وسوځی او نه کباب، ستاسی پیسی به سره له ښی ګټې درحصول شی.

(مخ پرسېدلی) سوداګر په ګیله آمیزه لهجه و وویل

(مونږ خو هیڅکله له خپلې وعدې او قول څخه نه ګرځو. څه چه مو در سره ویلی دی هغه صحیح دی. ته دغه لاره مونږ ته وښیه چه هغه به څرنګه لاره وې؟) ور وسته تر هغه (ملك) خپله نظر یه دوې ته داسې وویله:

(څوك چه سبز کال وړی شی ور کولای هغه دې په کال وړی در کړې البته نرخ به ئې کم وی چه دیسو مفاد ورځنی ووځی. سربېره په دې دغه ډول پوروړی مقروضه خلك به نوری پیسی هم له تاسی څخه په وړیو اخلی او په کال به خپلې وړی ټولې بیله کوم زیان څخه تاسو ته تحویلوی. په دې باره کښې به خورا ټینګ خطونه ورځنی اخستل کېږی. که چېری دوی بیا د خپلو وړیو کومه برخه آزاده خرڅه کړی نو یو په دوه به دهغو تاوان در کوی، زما په عقیده خوله دې له بله ښه فیصله نشته، هو یو شی به بل هم کېږی هغه دادی چه

صیاده

زمری، لپوه او نازی دخه اوخه او دهوسیو ښکار کوی .

باز، شاهین او باښه دخه اوخه، د زرکو او کوترو ښکار کوی .

مگر ستا ښکار په بیل ډول دی، ستا ښکار او دهغو ښکار سره پرخ لری ،

هغو د هوسیو، زرکو او کوترو ښکار کوی ، او ته دزخمي ، تلو زړو نو ، ستا ښکار

عجیب شانته دی .

زه نه پوهیږم چه ته دزخمی او تلو زړو نو ښکار کوی داستا ضعف او کم طاقتي ده ،

او که روغ زړونه نشته ؟

په ما دترددا و اشتباهاتو په بحر کښې گړی په گړی گنې او متلاطمې چپې را اوړی

او په دې فکر کښې یم چه دا به نوخه وی؟ دا، او که هغه ؟

که ستا ضعف وی نو دخدای دپاره لږ غوندې خپل ضعف ته به ځیر شه داضعف او ناتوانی

له ځان نه لیرې کړه دقوی روح خاوند شه ! که د زخمی زړونو ښکار کوې نو څه خو

ورسره دروغوزړونو ښکار هم و کړه !

که روغ زړونه نه وی نو هم ما خبر کړه چه لږه غوندې مې ددې تالاوالا ستری ستومانه

زرگوتی سااو تیگار اتوله اودمه شی، او پوه شم چه ستا په ښکار ځای کښې له زخمی

زړونو پرته نور څه نشته، او ستا مجبوریت را نه معلوم شی .

ستا او دهغو ښکاریو بل پرخ هم لری، هغه داچه هغود ښکار په وخت کښې د ښکار پسې

ځی، ورپسې ځغلی او الوزی، خو ستا د ښکار کولو طرز او ډول بل ډول دی، نه په خپل ځای

ولاړ، او ستا په چاپیر چال، ماحول او مسقط الرأس چه زړونه دخپلې خوښی د پاره الوتنې

کوی او له بده مرغه ئې ښکته پرتا ستر گې ولگیږی نو لکه په هوا کښې چه ورته تکه او

تندر ورسیږی، دسروغوښو په څیر پرتا باندې را ورپیږی او ستا د خولې مړی شی .

ای صیاده! (دعالم منظره) وو ایه! چه ستا په ژوند کښې هغه گړی هم راتلونکی ده چه ته

به له دې راز ښکار نه بې نیازه کیږې او که یه ؟

که راتلونکی وی نو داد را کړه چه دهغې گړی دراتلو په هیله که څه هم گړی په

گړی ستا په خوله کښې دلوېدو او فناء احتمال شته، خپل سود او تسلو کړم . زین الله

دپښتو ټولنی دتیر کال خپرونی

۱: لوړ خیالو نه اوژور فکرونه

۲: داور لمبې

۳: پښتانه داقبال په نظر کښی

٤: منطق

٥: افغان قاموس

٦: پښتو نثرونه

۷: پریشانه افکار:

۸: نړۍ په دوه زرم کال کښی

۹: افغان قاموس دوهم ټوك

۱۰: دحنان دیوان

نوی چاپ شوی کتابونه

۱: پښتنی دودونه

۲: غوره نثرونه مؤلف ښاغلی الفت

کابل مجله

تاسی کولای شیء چه په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په دننه هیواد کښی په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په ۱۲ کلداری په نورو د باندنیو هیوادونو کښی په (۳) ډالره لاس ته راولیء

دښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه.

دیوه کال داشتراك دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنی دمحاسبې مدیریت ته اوپه ولایاتو کښې دهمدی مؤسسی دجاری شمېر په (۷۸۷٥) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی

دولتی مطبعه